Paschto

Das Gesundheitsprojekt
Mit Migranten
für Migranten

# په المان کي له تاو تریخوالی نه د میرمنو ساتنه

überarbeitete Auflage



## د تیښتیدلو میرمنو، مهاجرینو میرمنواو ځوانان لپاره سلاکاری


تقویه شوی د :

Die Beauftragte der Bundesregierung
für Migration, Flüchtlinge und
Integration

Ethno-
Medizinisches
Zentrum e.V.

## Impressum

Gewaltschutz für Frauen in Deutschland –
Ratgeber für geflüchtete Frauen, Migrantinnen und Jugendliche

**Herausgeber:**
Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.
Königstraße 6, 30175 Hannover

**Konzeption, Inhalt, Erstellung:**
Duale Hochschule Baden-Württemberg Villingen-Schwenningen (DHBW)
– Institut für Transkulturelle Gesundheitsforschung

Ethno-Medizinisches Zentrum e.V. (EMZ e.V.)
– MiMi Integrationslabor Berlin (MiMi Lab)

**Förderung:** Beauftragte der Bundesregierung für Migration, Flüchtlinge und Integration

**Projektleitung:** Ramazan Salman (EMZ e.V.), Prof. Dr. Dr. Jan Ilhan Kizilhan (DHBW)

**Redaktion:** Jasmin Bergmann, Dagmar Freudenberg, Sarah Hoffmann, Olga Kedenburg, Ahmet Kimil, Prof. Dr. Dr. Jan Ilhan Kizilhan, Claudia Klett, Gabriele Martens, Ass. iur. Isabell Plich, Anne Rosenberg, Andreas Sauter, Ramazan Salman, Prof. Dr. Karin E. Sauer, Prof. Dr. Anja Teubert, Susanne Winkelmann, Lutz Winkelmann RA

**Layout und Satz:** eindruck.net

**Übersetzung:** Dolmetscherdienst – Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.

**Bildquellen:** Umschlagbild und Bild auf Seite 16 © Tom Platzer „Styling time4africa"
Ministerin Widmann-Mauz: Bundesregierung/Kugler · Seite 2: © iStock, imagesbybarbara
Seite 5, 22, 25, 29: © Fotolia · Seite 11: © iStock, m-imagephotography

Alle Rechte vorbehalten. Das Werk ist urheberrechtlich geschützt. Jede Verwendung in anderen als den gesetzlich zugelassenen Fällen bedarf deshalb der vorherigen schriftlichen Genehmigung durch den Herausgeber.

Diese Publikation können Sie jederzeit über die Webseiten „www.mimi-gegen-gewalt.de" oder „www.mimi-bestellportal.de" in folgenden Sprachen anfordern: Deutsch, Albanisch, Arabisch, Bulgarisch, Dari, Englisch, Farsi, Französisch, Kurdisch, Paschto, Polnisch, Rumänisch, Russisch, Serbisch/Kroatisch/Bosnisch, Spanisch, Italienisch, Türkisch und Vietnamesisch

3. Auflage · Stand: November 2018

# د سلام پیغام



## ګرانو آغلو او ښاغلو لوستونکو

د ۲۰۱۶ کال راهیسی په ټول هیواد کې د MiMi پروژې (د تاوتریخوالی خوندیتوب د کډوالو له خوا کډوالو ته) شتون لري. مونږ غواړو د دې پروژې په مرستې سره ښځې او نجونې، چې د جنسي تاوتریخوالی اغیزمن شوي او یا د هغوی د حقونو او محافظت د انتخاب په اړه تهدید شوي مرسته او معلومات ورکړو.

د شمیرې ته یوه نظر اړتیا ته اشاره کوي: په تیرو دریو کلونو کې د پناه غوښتنې لپاره ۱.۳۶ میلیونه لومړنې درخواستونه شوي دی، چې ۴۶۳۰۰۰ یا ۳۴ ٪ یې د ښځو لخوا شوی ده. هریو د تاوتریخوالی مخنیوی ملاتړ ته اړتیا نلري. مګر ډیری میرمنو د مخه د خپل په هیوادونو کې تاوتریخوالی یا د تبتیدلو پرمحال کې او یا پخپله تجربه کړې.

د ډیرو کسانو لپاره دا ستونزمن کار دی، چې د جنسي تاوتریخوالی په اړه خبری وکړی. همدارنګه، ښځې د ګډ استوګنې یا د ګډ اوسیدنې په ځای کې اکثر د یوې قانون په توګه د نارینه وو په پرتله یوازی پاتې دی. له دې امله دا پروژه د ایتنو روغتیایي مرکز د منځګړیتوب په چوکات کې غوره کوي. منځګړي د خپلو تجرنو څخه پوهیږی چې په نوي چاپیریال ته شاوخوا شومره ننګونکی کیدای شي. بیا نو چې له داره ډکې رواني تجربې هم ور سره یو شي.

ښځینه منځګړي په مستقیم ډول د استوګنې او تولنیزې استوګنې او د کورنی سیمې ته ځي. هلته دوی د بشري حقوقو، د ماشوم ساتنه او د میرمنو حقونو په اړه ښځې او ځوانې نجونې ته مالومت ورکوی او ځنګه دوی د بریدونو په وړاندې ځان وساتي. دوی فرهنګی، ژبه او جنسی حساسیتونه په پام کی نیسي.

زه خوشحاله یم چې د ۲۰۱۸ کال څخه راهیسی دغه پروژه اوس هم د نارینه لپاره د مخنیوي وړاندیزونه هڅوي او منځګړي ته ترینینګ ورکوي. ځکه چې په درناوی او بیله تاوتریخوالي له یو بل سره ژوند کول یوازې بریالي شي ، که چیرې ښځې او نارینه په مساوی توګه شامل شي.

زه هیله لرم چې مونږ کولی شو تاسو، ګرانو لوستونکو ته د دې لاربښود سره ستاسویه کډوالو د مرستې په برخه کې مرسته وکړو.



Annette Widmann-Mauz ، د صدراعظمی سره دولتي وزیره او د حکومت لخوا د کډوالو، پناهنده ګانو او مهاجرینو لپاره ګومارل شوي



# محتوی


## 1. مهاجرت، تیښته اوتاوتریخوالی جبر (ظلم او ستم) ............................ 4
تاوتریخوالی د تیښتي سبب | د تیښتي په وخت کي تاوتریخوالی
د ماهجرینو اوسیدنو ځایونو کي تا تریخوالی | تر تیښتي ورو سته تاو تریخوالی

## 2. د تا تریخوالی قسمونه ........................................................ 8
په نیغه تاوتریخوالی | سازمان شوی تاوتریخوالی | اداری یا نهادی تاوتریخوالی

## 3. د میرمنو او ماشومانو پر وړاندی تاوتریخوالی ............................... 12
مجرمین څوک دي؟ | د میرمنو او ماشومانو پر وړاندي د تاوتریخوالی علتونه
د میرمنو او ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی بیلګې | د میرمنو او ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی عواقب

## 4. له تاو تریخوالی څخه و تلو لاره ............................................. 26
په المان کي د تاوتریخوالی د قربانی کسانو لپاره قانوني امن | په ګډه له تاوتریخوالی نه خلاصون

## لغاتنامه ............................................................. 32

## د اړیکو پتي ............................................................. 37

# ۱. مهاجرت، تیښته او تاوتریخوالی

## تاوتریخوالی د تیښتي سبب

یو د تیښتي سبب د میرمنو لپاره تاو تریخوالی دی. دا په دې پوری اړه لري ، چي په نړۍ کي میرمني تر اوسه هم د نارینه په پرتله مساوي حقوق نه لري: که څه هم تر ۲۰۱۴ کال پوری ۱۴۳ هیوادونو په خپل اساسي قانون کي مساوي حقوق شامل کړي. خو را نقل شوي کلتوری او مذهبي اعمال میرمنوته په ټول نړۍ کي تر نارینه کم ارزش ورکوي.

**حقوقي حالت :** په کال ۱۹۴۹ کي د ښځو حقوقي کمیسیون (سي ایس ډبلیو) را منځ ته شو. دا کمیسیون باید د میرمنو سیاسي، اقتصادي، او ټولنیز حقوقي حالت ښه کړي . په کال ۱۹۷۹ یوه موافقتنامه تصویب شوه، چي باید دمیرمنو پر وړاندي هر قسم توپیرونه له منځه ولاړ شي.

(Convention On The Elimination Of All Forms Of Discrimination Against Women – CEDAW)

دا موافقتنامه په کال ۲۰۱۵ کي ۱۸۷ هیوادونو له خوا تصویب شوه. المان هم لاسلیک او تصویب کړه. جنسین تاوتریخوالی ( د بیلګي په توګه جنسي او کورنی تاوتریخوالی) جرم بلل شوی. سړی کولای شي د هغه پر وړاندی په محکمه عرض وکړي.

پر میرمنو باندی د نارینتوب د حاکمیت د ساتلو لپاره له میرمنو سره جنسي او کورنی تاوتریخوالی کیږي. د بیلګي په توګه:

— د ښځینه جنسي آلي پری کول، که څه هم په رسمي توګه منع دی، خو بیا اجرا کیږي.

— د میرمنو او نارینه تر مینځ د واک نا برابره مناسبات ، لکه د دوی تر منځ نا مساوی حقوق، میرمنی د »مال« په څیر حساب کیږي او جنسي اعمال د »پیسو« په څیر«. عواقب یې زیات وخت اجباری نکاح ده، او یا هم اجباری د غربت فحشااو انسان پلورل دي.

— د دولتي کسانو له خوا د میرمنو او ماشومانو ناوړه چلند (پلیس، عسکراو یا نور دولتي مامورین) په هیوادونو کي کي د زندان او تحقیقاتو په وخت کي.

— جنسي تیری د سیاسي علتونو په خاطر، دخاصواوسپدونکو دلي بایدد جنسي تیري له خوا کنترول شي او یا یي ریښې و ایستل شي. پدې وخت کي بیا د » قومی تصفیې« خبره کیږي ، جنسي تاو تریخوالی پدې ځای کي د جنګ د وسلي په توګه او یا د دله ییزو ټولنو د منځه وړلو لپاره کارول کیږي. میرمنی د جنسي تیري په کمپونو (rape camps) بندي ساتل کیږ ي.

د لغتنامي لفظونه په لیکنه کي کیږ ي لیکل شوي دي .

– هغه ما شومان ،چي په جنگ کي تر جنسي تیري وروسته کیږي، د هغوی بي سرپرسته پاته کیدل او یا په سختو وختونو کي د هغوی وژل . هغه ماشومان چي ژوندي پاتي کیږي، د مور په ټولنه او چاپیریال کي دقانون په واسطه امن او حفاظت نه لري. همدا رنګه هغه ماشومان چي په جنګ کي یي خپل مور او پلار له لاسه ورکړي وي (د جنگ یتیمان)، مجبور دي ، چي د عسکرو لپاره کار وکړي او یا د ماشوم په توګه په جنگ کي ګډون وکړي.

د میرمنو او ماشومانو پر وړاندي د تاو تریخوالی له سبب نه نور سببونه هم د تیبنتي لپاره شتون لري. د بیلګي په توګه جنګ او شړل. تیبنته پخپله هم کیدای شي د ماشومانو او میرمنو لپاره خطرناک وي. د تیبنتي په لاره کي هم زیات وخت له تاوتریخوالي سره مخ وي.

## د تیبنتي په وخت کي تاوتریخوالی

د تیبنتي په وخت کي میرمني په خاصه توګه په خطر کي دي ، چي د تاوتریخوالی سره مخ شي. سمندري غله، چور کونکي، امنیتي واکداران،قاچاقبران او حتي نور تبنتیدونکی کیدای شي بدرفتاری او یا جنسي تیری وکړي. سرحدي مامورین میرمني او ماشومان هلته حصاروی او د اوږدي مودي لپاره جنسي تیری پري کوي. سمندري غله میرمني یرغمل ساتي او دباج په شکل له هغو نه سکس غواړي اوورروسته تر هغه بیا کولای شي ،خپل سفر ته ادامه ورکړي. قاچاقبران له میرمنو او ماشومانو سره تر سرحدونو له تیریدو مرسته کوي. ددي کار لپاره له میرمنو یا سکس غواړي یا پیسي او یاهم قیمتي شیان.



هغه کسان چه په لاره کی د جنسی تجاوز او نورو تیری سره مخامخ دی هغه دا کسان دي:

– یوازې میرمني چي له ماشومانو او بیله ماشومانو سفر کوي

– حامله میرمني او هغه میرمني ،چي ماشومانو ته شیدي ورکوي

– ځواني جنکیانی او د کم سن کسان چي ملګری ونه لري

– پر کم سن واده شوي نجوني – ځینی يې له تازه زیږیدلي ماشوم سره

– معیوب او زاړه خلک

– هغه کسان چي مفاهمه نه شي کولای

تبنتیدلی کسان په لاره کي دزیات وخت لپاره په لاګرونو کي ژوند کوي. زیات وختونه دا ځایونه د سفر په وخت کي یواځني د تاتوبي ځایونه وي. هلته دتاو تریخوالی سره د مخ کېدو خطر زیات دی. تبنتیدلی کسان په لاګرونو کي سازمانونو ته اړ وي. دا کسان بایدد اوسیدونکو غم وخوري او د هغوی سوکالی اطمیناني کړي. پدي وخت کي هغوي پر خپل ژوند کنټرول له لاسه ورکوي. داسي حالت کیدای شي، تبنتیدلی نارینه له بحران سره مخ کړي ، خپل ځان او خپل درېځ په ټولنه کي په خطر کي ووېني.له همدي کبله هغوی له تاوتریخوالی نه کار اخلي.

## د مهاجرینو اوسیدني په ځایونو کي تاوتریخوالی

په المان کي د مهاجرینو اوسېدني په ځایونوکي د میرمنو پر وړاندي د تاو تریخوالي په اړه خبرونه مخ په زیاتیدو دي. د تبنتیدلو کسان دوه پر دري برخه يي نارینه دي، د هغوی زیاته برخه يې په سن تر ۳۰ کلني کښته دي. پدې ځایونو کي د میرمنو امن ځایونه او یا خاص د میرمنو ځایونه شتون نه لري.

د اقامت او پناهنده ګي قانون د تبنتیدلو میرمنو پر وړاندي دتاوتریخوالي په اړه ستونزی لري. د بهرنیانو دفترونه کولای شي ، دمیرمنو حفاظت وکړي. د بیلګي په توګه هغوی کولای شي د تاو تریخوالي په وخت کي د اوسېدنی مکلفیت په استثنايي توګه له منځه یوسي او د اسي ځایونه یا آپارتمانونه په نور ښارونو کي وړاندي کړي.

د اوسېدني په ځایونو کي حقوقي ساتنه د بیلګي په توګه په لاندي امکاناتو کیدای شي:

– د تاوتریخوالی عاملین د پولیسو په ذریعه د لنډ مهاله مودي لپاره د اوسېدنی له ځایونو نه ایستل.

– د اوږدي مودي لپاره د تاوتریخوالی د حفاظت قانون سره برابر اقدامات

– د اوسیدني له ځایه منع کول

**!**

**کیدای شي، چي د تاو تریخوالی عملی کولو لپاره علتونه موجود وي. خو دا علتونه د میرمنو او ماشومانو پر وړاندي د نارینه تاوتریخوالی نه شي وربخښلې.**

داسي ګامونه یوازې د لنډې مودې لپاره مرسته کوي.  د میرمنو اوماشومانو پر وړاندي تاو تریخوالی د اوسېدني په ځایونو کې د اوسیدونکو او یا د سفر د ملګرو له خوا هم کېدای شي. د ژوند ملګري یو بل ته اړتیا لري. پنا غوښتونکي او تحمل شوي  د اوسیدوني په ځایونو کي نسبتاً په انزوا کي ژوند کوي. هغوی په سختي  حقوقي مرستي د خپل چاپیرال نه تر لاسه کولای شي. ډیر کسان زړه ورتیا نه لري، مرسته وغواړي. زیات یي فکر کوي ، چي  په المان کي به د اوسېدني اجازه له لاسه ورکړي. میرمني چي د پناهنده ګی وړاندیز کوي، باید د خپلي تیښتي په هکله د لایل وړاندي کړي . زیاي میرمني شرمیږچه د جنسي تاوتریخوالي په اړه خبري وکړي. په دي ترتیب د هغوی د پناهندګی غوښتنلیک د هغوی د واده پر خپل حال پاته کېدو پوري مربوط کیږي.

**له حقوقي امکانات نه کار اخیستل د پناهندّ ګي پر موضوع تاثیر نه لري.**

## تر تیښتي وروسته تاو تریخوالی

میرمني او ماشومان له تاو تریخوالی سره یوازې د اوسېدني په ځایونو کي مخ نه دي. داسی کړني د کوربه هیواد په ټولنه کي هم را منځ ته کېدای شي.

د جانسن د پلټنو سره سم  له خلورو نه دری برخي میرمني په المان کي رواني تاو تریخوالی خبر ورکوی ،تر نیمایی زیاتی میرمني جسمي تاوتریخوالي او یو پر خلورمه برخي جنسي تاو تریخوالی  لیدلی.  امنستي انټرنشنل له تښتېدلو میرمنو نه پوښتني کړي. هغوی  د تیښتي په وخت کي د تاوتریخوالي له تجریبي پر سیره ویلي، چي په المان ي هم په دوام داره توګه له تاوتریخوالي نه ویره لري.  عاملین یي د ژوند ملګري ، بیګانه خلک،د اوسیدني په ځای کي اوسېدونکي او په هغه ځایونو کي سر پرستان ښودل شوي. د تاوتریخوالي مختلف قسمونه په عمومي ځایونو کي را منځ ته شوي ، لکه په هایمونو او یا په خپلو کورونو کي.

ځیني خلک داریږي چي یوازي د کهوالو استوګې پریږدي. لاملونه له ویري څخه دا دی:

- په سړک کي د کورنی خلکو لخوا سپکاوی او توهین کول
- جسمئ (فزیکي) بریدونه او توکمیزه تاوتریخوالی
- تبعیض او نابرابره چلند په ښوونځي کې،  دزده کړی او یا د کار په ځای کي

په آلمان کې د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۷ کال تر منځ د پناه غوښتونکو د استوګني (د بیلګې په توګه د اور وژني بریدونه) کې د ۲۲۰۰ څخه زیاتې حملې وې.

د جنسیت په اړه تاوتریخوالی په اړخ کي  نژادي تاوتریخوالی هم د تښتیدلو په ژوند کي شتون لري. په خاصه توګه د ځوانانو په برخه کي.

# 2. د تاوتریخوالی قسمونه

تاوتریخوالی په مختلیفو حالتونو کي په زیاتو شکلونو را منځ ته کیږي. په اساسي توګه تاوتریخوالی په دري قسمه دی:

– په نیغه مخامخ توګه تاوتریخوالی
– ترتیب شوی تریخوالی
– سازماني تاوتریخوالی

## په نیغه (مخامخ) توګه تاوتریخوالی

په نیغه تاوتریخوالی د یو کس له خوا پر یوه کس یا یو شي باندي کیږي

**د بیلګې په توګه ماشوم:**
پلار له خپلی ۱۲ کلني لور سره د ده په خبره تر هر څه زیاته مینه لري. هغه ورته وایي، چي له همدې کبله هغی سره ناز او نوازش کوي. هغه غواړي ، چي ټول بدن ته یې لاس ور وړي او احساس یې کړی اوهغه ته وایي . « زموږ په کورنۍ کې، موږ دا لاره کوو، نو تاسو باید خاموش وساتئ او د هغې په اړه خبرې ونه کړئ. «پلار په خپله لور فشار راوړي چي ورته ووایي،» موږ څه کوو معمول دی، هرڅوک دا کار کوي. ستاسو مور نه غواړم له ما سره زما سره ویده شي، نو ته باید دا کار وکړو. « هغه ورته ګواښ کوي که چیرې هغه د هغې په اړه له چا سره خبرې وکړي، نو هغه به زندان ته لاړ شي. دا جنسي تیري ده.

هره میرمن او هر ماشوم هماغه حقوق لري لکه نارینه. له زور زیاتی او ظلم نه د سا تنی پر وړاندي هم قانون شتون لري.

د دی ماشوم د شخصیتي سرحد مخکی نه د پښو لاندی شی، د بیلګی په توګه په ورځني ژوند یا حالاتو کي: نیکه تل د یکشنبي په ورځ لیدنی ته راځي او غواړي چي دولس کلن ماشوم د یو مچ (بوسئ) هرکلی وکړي. نجلی نه غواړي هغه ته مچ ورکړي، مګر د هغه اړتیا ته احترام نه کیږي.

دا ماشوم کیدی شي ښه وسائل شي، داسی چي د زده کړی له لاری

– «نه » ووایي او
– خپل خپلوانو و پیژني او د دې محدودیتونو درناوی وکړی.

په کورنۍ کي جنسي سوءُ استفاده یو پیچلي موضوع ده . د لږ اشارې په وخت کي باید په بیړني توګه له مسلکي سلا مشورو ځایونو سره اړیکي ونیول شي. سلا ور کونکی هلته د سکوت او پټي خولي مکلفیت لري. هغوی اجازه نه لري ، بل چا ته نکل وکړي. هغوی کولای شي ، سپارښتني وکړي، چي سړی نور څه کولای شي او ځان څنګه ساتلای شي.

**د بیګلې په توګه ترسن پورته میرمن:**

یو نارینه له کلونو را پدیخوا خپله میرمن آماده کوي، چې له هغه سره په هر وخت کې چې دی وغواړي جماع (سکس) وکړي. دی میرمن مجبوره کوی، بیله د هغې له رضایت نه ور سره ویده شي. دا مجبوره ده هغه خوشحاله وساتي. پداسې حالت کې خاوند د میرمنې روحي او جسمي صدمې ته توجه نه کوي. په زیاتو وختونوکې یې میرمنې له ویرې چې وبه وهل شي، هر څه منې او هغه فکر کوي چې میړه یې حق لري. داسې حالت ډیر د ژوند ملګري پیاوړي کوي او وایې، خپله ګناه یې ده ، څه نه وایې او هرڅه ور سره کوي، دوی یې نه مجبوره کوي. هغه پر دوی حق لري، دا ځکه چې دی یې میړه دی. مګر دا سم کار نه دی او په آلمان کې د مجازاتو وړ دی.

داقسم په نیغه تاوتریخوالی واضح ښکاری. خو بیا هم میرمن یوازې پاتې وي، دا ځکه چې کورنۍ او خپلوان یې

– باور نه کوي ، چې میړه یې د تاوتریخوالي له قرباني سره داسې چلند کولای شي.

– په دې عقیده دي ، چې میړه حق لري. دا طبعې ده ، چې میرمن له هغه سره جنسې کړنې کوي ;

– سلا ورکوي ، په دې اړه ډیر فکر ونه کړي او تحمل وکړي، دا ځکه چې نور امکانات شتون نه لري.

## تر تیب شوی تاوتریخوالی

جوړښت (ترتیب) شوی تاوتریخوالی د نابرابره واک له لارې منځ ته راځې او قدرت پورې اړه لري. د نورو خلکو باندی قدرت لرل، د دې مانا لري، چې د ټولو څخه به د دې توان ولري چې د نورو خلکو سلوک ته تأثیر وکړي، ترڅو هغوی کولای شي په دې وسیله خپل غوښتنې په نورو ومنې. دا په لومړي ځل بده ندی او په هر دوستانه اړیکو پورې تړاو لري. په ځانګړې توګه د

**د بیلګې په توګه:**

که نارینه په کورنیو کې د هغوی لپاره پیسې ګټې ، بیا نو په زیاتو وختونو کې هغه پر پیسو واک لري.

پر پیسو واک درلودل په ډیر وختونو کې لویه معنی لري. هغه ته د نورو اړتیا منځ ته راځي. که سړی پیسې او یا نور شیان له لاسه ور کوي، هغه مطمئن نه وي او ځان په خطر کې ويني. هغه څوک چې واک لري، کولای شي له همدې کبله نوروالمینان ور کړي او یا له هغو نه دا اطمینان بیرته واخلي. دا کسان کولای شي د کورنۍ غړي او دوستان له لاسه ور کړي. له همدې کبله واک (ترتیب شوی تاوتریخوالی) پر میرمنو او ماشومانو په لویو ترتیب شوي تاوتریخوالی کې ډیر نفوذ لري.

مور او پلرونو او د هغوی د ماشومانو ترمنځ، مګر په نورو حالاتو کې هم. دا مهمه ده چې نور خلک د ځان د ارادې په حق کې محدود نه وي.

تر تیب شوی تاو تریخوالی د توازن د نه شتون په حالت کي واک ته په تولنه کي وده ورکوي. د ټولنی نور غړي ډیر وخت حقوق نه لري او یا نه شي کولای  د ځان دفاع وکړي. هغوی پدې اړه پریکړه نه شي کولای ، چي  دځان لپاره يې څه شي ښه او اړین دي (د مثال په توګه، چي هغه چیرته اوسېدنه غواړي).

واک تل منفي نه وي. هغه څوک چي پر نور واک ولري، باید په معني يې و پوهیږي او مسئولانه له هغه استفاده وکړي. والدین پر خپلو او لادونو واک لري. اولادونه هغوی ته اړ تیا لري. والدین باید له واک نه کار واخلي ، پدی معنی چي له خپلو ماشومانو سره مرسته وکړي او دهغوی  ملاتړ وکړي. دا مرسته  د خوراک لپاره د پیسو نه په استفاده کي هم ارزش لري، په دې معنی چي  هغه بیله  له واک نه په سوُ استفاده ولګیږي.

## سازماني تاوتریخوالی

سازماني تاو تریخوالی د تاوتریخوالی یو قسم دی، چي د ترتیب شوی تاوتریخوالی په منځ ته را وستلو او یا موجودترتیب شوی تاوتریخوالی په وسیله   د واک مناسبات پیاوړي کوي. داسي حالت د انسانانو مخنیوی کوي ، هغه څه چي د ځان لپاره يې  مهم بولی، ویې کړي (د بیلګې په توګه  د کار په ځای کي، په ښوونځی کی،او یا د اوسېدني په ځایونو کي ، چي هلته د غذا خوړلو وختونه تعین کیږي او یا انسانان خپلو سر پرستانو ته اړ تیا لري).

په عامه توګه باید سازماني تاوتریخوالی په نظم کي مرسته وکړي.  د یوه هیواد اوسېدنکی تر مقرراتو لاندي راځي او هم  دا اطمینان ، چي دټولو لپاره به مساوي حقوقو وي. دلته هدف او نښه په سولیزه توګه او تفاهم کي ګډ ژوند کول دي. له  داسي حالاتو نه باید هیڅوک ، لکه پلیس ، مرسته کونکي، او حتي په خپله کورنی کي  غلطه استفاده ونه کړي.

په مختلفو اقسامو تاوتریخوالی یوه له بله ارتباط لري او اړخ پر اړخ شتون لري. په زیاتو وختونو کي څو قسمه تا تریخوالی په یوه وخت کي وي. تاو تریخوالی په مختلفو کلتورونو کي هم را منځ ته کیږي.  او هم پخپله د کلتورونه په منځ کي تاو تریخوالی شته. د بیلګې په توګه په پلار سالاری ترتیب شوي تولنو کي پیاوړی کیږي. پداسي ټولنو کي نارینه ډیر واک لري او ښځي کم حقوق لري. هغوی د ټولني په ژوندانه کي کمي برخي  لرلای شي ( د بېلګې په توګه تعلیم او تربیه ولري، پخپله کار وکړي). او هم  نا برابري په ټولنه او په ټوله نړی کي (د سوکالي غیر عادلانه ویشل،غربت، د غریب او بډای هیوادونو تر منځ مناسبات) کولای شي تاو تریخوالی ته لاره هواره کړي.



# .3 د میرمنو او ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی

نړیوال روغتیایی سازمان WHO د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی په نړیواله سطحه د میرمنو روغتیایي حالت تر ټولو لوی خطر بولي.  ملګري ملتونه وايي، د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی هر هغه عمل دي ، چې میرمنو ته جسمي ، جنسي او یا روحي صدمه رسوي او یا یې ور سره مخ کوي. په هغه پوري په عامه توګه او یا په شخصي ژوند مجبوره کول او یا آزادي صلبول هم تړلي دي .  پدې ترتیب تاوتریخوالی د میرمنو پر وړاندې په لاندې قسمونو پیژندل کیږي:

**په کورنیو کې جسمي ، جنسي او روحي تاوتریخوالی:**

- تاوتریخوالی تر واده وروسته او تر واده دمخه (د بیلګې په توګه وهل،  جنسي سؤ استفاده، جنسي تیری، تحقیرول ، تهدیدول)
- په کورني ژوند کې له ماشومانو نه جنسي سؤ استفاده
- تا تریخوالی چې په ولور پوري اړه ولري.
- هر رواجي عمل ،چې ښځې ته صدمه رسوي ( د بیلګې په توګه د میرمنو  جنسي ځای پرې کول)
- تاوتریخوالی ،چې نښه یې  استثمار وي

**په ټولنه کې جسمي ،جنسي او روحي تاوتریخوالی:**

- ویرول، جنسي ازارول ، جنسي سؤ استفاده او جنسي تیری د کار په ځای کې ، د تعلیم او تربیې په ځای کې او په نورو ځایونو کې
- پر ښځو تجارت او په زور زیاتي فاحشه توب

**جسمي ، جنسي او روحي تاوتریخوالی  ددولت په وسیله او یا چې ددولت له خوا تحمل شي**

**قانوني اړخ:**
تاتریخوالی عملي کول - جسمي او روحي (»جسمي صدمه«) -  په المان کې د مجازاتو وړ دی.

## عاملین څوک دي ؟

په سلو کی ۹۰ عاملین نارینه دي او د اغیزمن له نږدې چاپیریال نه راځي. هغوی له ټولنیزو ټولو پوړونه څخه راځي . هغوی کېدای شي، چې میړه ، پلار، نیکه، معلم، د کورنۍ دوست، ترینر، کاکا، ورور،  ملا، معالج او داسي نور وي. د واک نه په سؤ استفاده او یا جنسي سؤ استفاده حالت کې داغیزمن کس، زیات وخت میرمن او یا ماشوم، له دریغ نه په خاصه توګه استفاده کیږي.

د WHO (نړیوال روغتیایي سازمان) له خولې میرمني په ځینو ټولنو کې د ژوند د ملګری له خوا په خاصه توګه  کړیږي . دداسې ټولنو په یوه برخه کې د نارینه او ښځې تر منځ برابري نه وي. د نارینه او ښځې رولونه په کلکه تعین شوي دي او کلتوري نورمونه  نارینه ته د جنسي کړنو حق ورکوي.  دښځې احساساتو ته توجه نه کیږ ي.داسې کړنې ډیر کم  مجازات کیږي او یا حتی ښه کار هم ګڼل کیږي.

اغیزمن کسان په وار وار دداسی حالت تشریح غواړي. هغه کولای شي د عامل بار کم کړي. نتیجه به یې داوي ، چي تاوتریخوالی معاف شي او عاملین د هغه تکرار ته وهڅول شي. هغه بیا ځان په خپل فکر او نظر کي تائید بولی ، چي بیا به وایي » زما کړني کوم عواقب نه لري« - »ماته څه نه را پیښیږي!« - »ټول زما نه ویره لري او زما عزت کوي.

## د میرمنو او ماشومانو پر وړاندي د تاوتریخوالی علتونه

ترتیب شوي نا برابري د ښځي او نارینه تر منځ د میرمنو پروړاندي تاوتریخوالي ته وده ور کوي. په ټینګه دا اړه لري په

– **ترتیب شوي پلار سالاري پوري.** دا ترتیبات د نارینه او ښځینه یوخاص انځور پیژني.
د نارینه توب معنی زیات وخت واک ، پیاوړتیا او تسلط او دښځینه توب معنی تحمل، غیر فعال او حقارت وي.

– **د نارینه توب پیاوړي ادعا ساتل** اوپه عین وقت کی د کمزور تیا مفکوره. په داسي حالتونو کي زیات وخت بد رفتاري منځ ته راځي، دا پدې چي نارینه فکر کوي، هغه ددې کړنو حق لري. هغه اجازه لري پر خپلي میرمني تسلط ولري ، هم د هغي پر جسم او د هغي پر هر څه چي کوي، له چا سره خبري کوي،څنګه جامي اغوندي، او په کوم ځای کي اوسیږي.

– **د ښځو په ځان بسیاتوب زیاتوالی (په ورځنی ژوند او کار کي):** ځیني میړه دا یو ګواښ بولي ، که چیرې میرمني یې مالي او په ټولنیز ډول خپلواکه شي.

– **د سرې بې وزلئ** ( د بیلګې په توګه، د پناه غوښتني په پروسه کي، د ژبي مهارتونو نشتوالی، بیروزګاري) دا کولای شي هغه خنډونه رامنځته کړي، چي د خپل کورني په وړاندي د قهر او غصي سبب وګرځي.
د سړي لپاره، کیدی شي دا په لنډه موده کي احساساتي مرستي وي. له هغې وروسته دا پښېماني راوړی. ترهغه وخته چې د زړه بدوونکی خواتوروتګی بیا پیل شي.

– **تهدیدونکی پریښوونه (طلاق):** هغه ښځې چي غواړي د خپل میړه / ملګري څخه طلاق ونیسي، د تاوتریخوالي ډیرې خطر سره مخ دي. دا سړی نشي کولی چي هغه پریږدی، ځکه هغه فکر کوی چي ښځه د هغه ملکیت دی.

ځیني نارینه پدې باور دي چي د قدرت او کنټرول تمرکز، حاکمیت، سیالی او حتی فزیکي تاوتریخوالی دوی د «حقیقي» سړي جوړوي. دا اکثر په ټولنه کي د برابر مسایلو لپاره د ښځو ادعا سره مخالفتونه راوړی. مساوي حقونه په آلمان کي قانوني دي.

**د ښځو او نارینه برابر حق په المان کی قانونی دی.**

# د میرمنو او ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي بیلګې

په جنسیت پوري مربوط تاو تریخوالی زیات وخت په شخصي ماحول کي، د ژند د ملګریله خوا (کورنی تاو تریخوالی) او جنسي تاوتریخوالی.

## کورنی تاوتریخوالی

دقیق تعریف د کورني تاوتریخوالی په اړه شتون نه لري. زیات وخت سړی هغه تاوتریخوالی یادوي، چي د ژوند د ملګري او یا د پخواني د ژوند ملګري له خوا پر ښځینه ژوند ملګري او یا پخواني ښځینه ژوند ملګری باندي عملی کیږي. معنی داچي په کورنۍ کي د لویانو او یا د میړه او ښځي تر منځ تاو تریخوالی وي. ۹۰ سلنه نارینه عاملین او ښځي اغیز مني وي. زیات وخت په همدې ځت کي ماشومان هم اغیزمن وي.

کورنی تاوتریخوالی د کنترول او د قدرت عملي کول دي. یو خاصیت یي دا دی: کورنی تاوتریخوالی په شخصي ماحول کي رامنځ ته کیږی. شخصي چاپیریال، شخصي ماحول هم مجرم ساتي. میرمنی او ماشومان اکثراً نه غواړی او یا نه شي کولای پر دي موضوع باندی خبري وکړي. هغوی د مجرم تاوتریخوالی ځخه ویره لري. هغوی داریږی چي کورنۍ د پولیسو لخوا جلا شي، که چیري د تاوتریخوالی په اړه خبری وکړی، او له دی امله چپ پاتي شي. هغوی په سخت فشار لاندی پاتي شوی یاست.

د کورنی ظلم او تیری مثالونه

– **جسمي تاو تریخوالی**، لکه تر وریښتانو کشول، ټاپیړه ورکول، په سوکانو وهل، نوکاری کول، پوري وهل، خفه کول، تړل او په مختلفو آلاتو برید کول (هم په وسله)

– **روحي تاوتریخوالی:** لکه د ژوند ملګري حقیر او د خندا وړ ګرځول (هم په عام محضر کی)، په دوامداره توګه د هغه غلطي نیول، اصلاح کول، پر کوچیني شیانو نیوکه کول، ذلیل کول، په ماشومانو تهدید کول چي له هغوی سره به له دي ځایه ولاړ شي حتی په مرګ تهدیدول .

– **جنسي تاوتریخوالی**، لکه په زور جنسي کړنو ته مجبورول، جنسي تیری او یا هم په زورفاحشه ګري،

– **ټولنیز تاوتریخوالی:** د نورو کسانوسره داړیکو کنټرول او د اړیکو ممانعت، او په ځینو وختونو کي په بندي کولو سره عاملین اغیزمن کسان له کورنۍ او دوستانو لیري ساتي

– **مالي تاوتریخوالی:** ددې تاوتریخوالی هدف دادی، چي اقتصادي اړتیا را منځ ته کړي. عامل کس اغیزمن کس له کارکولو نه منع کوي او یا يي مجبوره کوي ، دهغه لپاره کار وکړي. پدې ترتیب چي هغه یوازي پر پیسو کنټرول ولري.

## جنسي تاو تريخوالى

جنسي تاوتريخوالى کېداى شي د کورني تاوتريخوالي يوه برخه وي، هغه بيا دوام پسي کوي.

دا په هغه خبرو پيل کيږي، چي ميرمن ذليلوي. زيات وخت په بد کتلو او په ځورونکي لغاتونو وي. د هغه اقسام په جنسي محدود ځورونو او بيا تر زيات ځورونو حتى تر جنسي تيري او جنسي سؤ استفادې پورى رسيږي. د تاوتريخوالي مختلفو اقسامو سرحدونه په ښکاره ډول واضح نه وي، هغه يو په بل کي وي.

دا قسم تاوتريخوالى له جنسي کړنو نه د وسلي کار اخلي. جنسي تريخوالى خپل واک اظهاروي او قرباني کس تر تسلط لاندي راولي. سړى کولاى شي ، د جنسي تاوتريخوالي مختلف اقسام مشاهده کړي. دا کېداى شي د لويان تر منځ را منځ ته شي. ځيني وختونه لويان او کم سنه ځوانان د ماشومانو پر وړاندې جنسي تاوتريخوالى کوى او يا ماشومان پر ماشومانو تاوتريخوالى راولي. پر قرباني کسانو بيا

– **جنسي تيرى:** مجرم کس خپله تناسلي آله په مختلفو ډولونو په قرباني کې ننباسي، او يا په نورو شيانو، ځيني وختونه دا سي کړني نور کسان باندى کوي او يا حيوانات..

– **جنسي کړنو ته مجبوره کول:** مجرم کس قرباني کس مجبوره کوي، دى پخپله او يا بل کې په مختلفو جنسي ډولونو خوشحاله کړي .

– **جنسي ځورونه:** تورن (مجرم) د اغيزمن شوي د خواست په وړاندې سپکاوى کوى، د شاوخواته، او يا سيني ته لمس کوى، په زوره مچ کول او يا غيږ په غيږ کيدل.

دا پورته اعمال له واک نه زشته ناوړه استفاده ده، مجرم کس دا سي کړني په قصد کوي ، نه تصادفي. هغه غواړي خپل ځان خوشحاله کړي او يا قرباني کس ذليل کړي. داسى کړني د مجازاتو وړ دي ( د جرمونو اړوند).

د جنسي سرحدى سرغړونه کله ناکله غيرقصدى وي، ډيرى وختونه د ناپوهې او يا هم د ناکافي حساسيت نشتوالى له امله سبب کيږي.

ډيرى وخت، د جنسي سرحدى سرغړونه د مجازاتو وړ جنسي عمل پيل دي. **تجربه ښيي چي قربانيان اکثرا نشي کولاى د ځان دفاع وکړي. دوى اکثرا دغه بريد د شاک په څير تجربه کوي او ويره لري. له دي کبله، ډيرى زيان رسونکي نشي کولى په خپل حالت کي ځان لپاره ودريږي. سره له دې، دوى ګناه نلرى چي دوى ته څه پيښ شوي.**

**!**

**اړين: د پورنيو تاوتريخوالو قرباني په توګه هيڅ کوم سبب شتون نه لري ، چي خراب وجدان ولري او يا ځان ته بد ووايي! تاسو هيڅ ګناه نه لرى، حتى ډيره کمه هم نه. تاسو همدارنګه د هغه تاوتريخوالي په اړه چي تاسو ته متوجه شوى وي، مسئوليت نه لرى. تاسو مجبور نه ياست، چي دمجرم په چلند پوه شئ او يا هغه ته بخښنه وکړئ. ( بيلګه: » غلطه وه، چي هلته ولاړم. ما يو څه غلط وويل. شايد لمن به مي رښتيا هم لنډه وه«).**

## جنسي کمه خلاف رفتاري

جنسي سرحدي خلاف رفتارى ځيني وختونه قصدي نه وي، هغه زيات وخت د نه معلومات او نه کافي احساس له کبله منځ ته راځي.

زيات وخت سرحدي جنسي خلاف رفتاري د جرمي جنسي کړنو پيل وي. تجريبو ښودلي، چي قرباني کسان زيات وخت ځان نه شي ژغورلاي. کړني بيله عواقبو پاتي کيږي. سرحدونه يي يو په بل کي راځي.

> په واضح او ښکاره ډول ووایاست :
> » بس ، سرحد همدا ځای دی«

## جنسي ځورونه

جنسي ځورونه قصد لري، بل کس (په عمل کي د دي کس تناسلي آله د عمل لپاره مهمه ده) توهين او ذليل کړي. د شا خواته او يا سينې ته لاس ور وړل کيداى شي جنسي ځورونه وي.

دلته هم مهم دی: مقابل لوري ته په خبرو يا اشاره واضح کړی، چي هغه د لاس ور وړلو چلند پريږدي. داسي حالت کولای شي د تاو تريخوالی مخنيوی وکړي. اما دا تل برياليتوب نه لري. بيا نو سړی کولای شي ، مرسته وغواړي - دا ځکه چي: ځيني مجرمين ترخپل سرحد قصداً تيريږي.

## جنسي ناوړه استفاده

د جنسي تاو تريخوالي يو خاص قسم جنسي مثال استفاده ده. هرجنسي عمل د لويانو له خوا د



جنکیانو او هلکانو پر وړاندي دی چي عمر يې تر ۱۴ کاله کم وي . دلته بيا مهم ندہ چي هلک او يا جنکياني ظاهراً رضايت لري ( موافقه لري) او يا يې نه غواړي. يو بل قسم جنسي تاو تريخوالی هم شته. زيات ماشومان ( اما لويان هم) جسماً، روحاً، ذهناً او يا د خبرو د نه پوهيدو له کبله تر عامل کمزوری وي. هغوی په پوهي موافقه نه شي کولای. مجرم د خپل واک له دريځ نه ناوړه استفاده کوي.

ځيني عاملين شته ، چي په مختلفو ستراتژی ( اکثراً د انترنت له لاري په چتروم کي) له ماشومانو او ځوانانو سره اړيکي نيسي، ددې لپاره ،چي د جنسي کړنو لپاره تياري ونيسي. دلته لومړي علاقه ښکاره کوي، بيا وروسته ارتبا طا ت جوړ شي. مجرم د مقابل اړخ له ډيرو شيانو خبريږي او کولای شي، داسي شيان بر هغه د زور زياتي آلي په څير وکاروي. (» زه دي مور او پلار ته وايم، که ته ماته لوڅ عکسونه راونه ليږې.«) دې ته د جنسي تاو تريخوالي لپاره لاره هواريږي »ګرومينګ«.

مجرم ستراتيژيکي لاره اخلي او د ټولني دترتيب شوي خاص نورمونو او ارزښتونونو نه استفاده کوي. هغه د هغوی شاته پټيږي. قرباني شوی کس ځان ته اړ باسي او پدې ترتيب خپل د واک دريځ ترلاسه کوي. په پای کي سړی په دې نظر کيږي، چي مجرمين هم په رسميت پيژندنه غواړي او په هغوی کي د ځان د ارزښت احساس کم وي.

تورن (مجرم) په ستراتيژيک ډول کار کوي او له ټولنيز جوړښتونه، ځانګړي ارزښتونه او نورمونه استفاده کوي. پدې کي د جنسيت په اړه د نامشورع خبری کولو شامله ده، څکه چي دا ډيری وختونه اغېزمن ماشومان او ځوانان د هغې په اړه

**بېلګهمثال**
جنکۍ څلور کلنه. دلته ټول عاملين يې د مور ملګري او دوستان وه. يوه کس يې مور په قصدي ډول لټولي وه. هغې د يو اعلان په ذريعه په يوه پارتنر پسي تلا ښ کاوه او هغه کس متوجه شو، چي دا ميرمن يوه وړکۍ لور لري. دا پارتنر له ماشومانو سره سکس غوښت او ډير ژر يې پردي وړوکي لور»بريد« کولای شوای، دا څکه چي ټول يو ځای په يوه کور کي اوسېدل. مور يې د زور زياتي کړنو پروړاندي کوم عکس العمل نه درلود. هغې ويره لرل ، چي هغه کس به ځينی ولاړ شي او دا به يوازی پريږدي.

خاموش دي. بل فکتور د استقلال تعليم دی: که ماشومان د لويانو سره مخالفت ونه کړي او هغه څه چي دوی يې وايې کارول کيږي، دا امکان نلري چي سرحدونه مقرر کړي او بيرته ځان نه دفاع وکړي.

له ماشومانو نه سؤ استفاده کولای شي لاندي **رواني فشارونه را منځ ته کړي:**

- **شرم:** ماشومان زيات وخت فکر کوي، د اغيزمن په توګه د تاوتريخوالي په اړه د هغه ګناه ده. څه چي پيښه شوې، دهغه په اړه شرميږ ي. دا احساس تر هغه پياوړی دی چي عامل ته عصباني شي.
- **غلط د مسئوليت احساس:** ماشومان فکر کوي ، کوم غلط کار يې کړي او يا د هغوی ګناه ده، چي کورنۍ چارچوکات يې له منځه ولاړه شي. داد زياتو اغيز منو ماشومانو لپاره يو نه حليدونکې ستونزه ده.

– **له قهر نه ویره:** ماشومان هم په ښوونځۍ کې او یا نورو تاسیساتو کې د جنسي تاوتریخوالی قرباني کیږي. هغوی بیا نه غواړي په کورنۍ کې له معلم نه او یا د رفیقانو له خوا قهرووینې.

– **محکومیت:** ماشومان ډاریږي چې نور خلک د دوی تجربې په بل ډول سره قضاوت کوي او د دوی احساسات غلط وبولي. ډیری وختونه دوی خپل حقونه نه پیژني او نه پوهیږي چې لویان په غلطه توګه عمل کوي او هغوی مجازات کوي.

– **د پټ ساتلو مکلفیت:** د تجربی له خوا: ما شومان لویه ستونزه لري د »ښه« او »بد« رازونوتر منځ توپیر وکړي. ځینې وختونه هغوی غواړي چې خپل راز رسوا کړي، که څه هم د مجرم له خوا پر هغه زور وي.

**بیلګې:**
یو پلار خپل دولس کلنه لور جنسي تیری کوي: هغه په سرغړونه د هغې باندی حمله کوي. دې نجلۍ درد درلود او احساس یې کاوه چې پلار څه غلط کار یی کوي. پلار ځرګنده کړه چې هغه د مور په پرتله غوره وه او هغه د پلار په توګه هغه دنده لري چې د خپل جنسیت ښودنه وکړي. هغې د خپلې مور په وړاندې ګناه احساس کړه او پوهیدله چې مور یې له هغې څخه مخ اړوي. هغه هم په دې اند دی چې د هغې د پلار لپاره د پلار خواشیني مسؤلیت لري.

هغه ماشومان، چې ښه تجربی تر لاسه کوي، پر خپل حس اواحساساتو باور ولري، او متوجه کیږي، چې په چاپیریال کې یې نور جدي نیسي او اجازه لري غلطې وکړي، هغوی تل پر خپل وخت مرسته غواړي او نورو ته سرحدونه ښیې.

**قانوني اړخ:**
جنسي عملونه له ماشومانو سره ، چې سن یې تر ۱۴ کلونو کم وي تل د مجازاتو وړ دي .

د مجازاتو د قانون ۱۷۶ ماده: دا هم جنسي ناوړه استفاده ده، چې که ماشومان مجبور وي، له یوه نارینه یا ښځینه او یا له بل چا سره جنسي عمل وکړي. د جرم بل شکل دا هم دی، چې ماشومانو ته سکسي عکسوه ښکاره شي، ددې لپاره چې هغوی ترتاثیر لاندې راولي.

قانون ځوانان تر ۱۸ کلنې پورې دجنسي اعمالو له خاطره له هغه کسانونه ژغوري ، چې له هغوی سره د سر پرستې مناسبات لري.
دا کسان مور او پلار دي ( پلند او میره هم) ،معلم، استاذ، ټولنیز کار کونکۍ او نورد تعلیم او تربیې موسسو کارکونکې. په دې سن کې امتحان کیږي، چې ځوان د ځومره زور اومجبوریت د تحمل توان لري او د اغیزمن له مجبوریت نه ځومره استفاده کیږي.

ځوانان له ( ۱۴ تر ۱۸ کالو) او د ودې په حال کې ځوانان له (۱۸ تر ۲۱ کالو)هم مجازات وینې ، چې که د جنګۍ یا هلک له مجبوریت نه ناوړه استفاده وکړي او یا هغوی ته دجنسي عمل په بدل کې پیسې ورکړي.

### جنسي تاوتريخوالى د ميني او نوازش په واسطه

جنسي تاوتريخوالى تل معنى دا نده، چې د „ تاوتريخوالى„ په عمل كيدو درد احساس شي (د بيلګي په توګه وهل او ډبول). په ډيرو وختونو كي جنسي تاوتريخوالى په ناز او نوازش هم رامنځ ته كيږى. دا له تسلط او زور سره تړاو لري، داسي تاوتريخوالى د اغيزمن سړي لپاره يو ستونزمن او دوه مخي حالت را منځ ته كوي: ميړه يا پلار، نيكه او يا د كورنئ يو دوست تصميم نيسي، يو د ميني ډك كار وكړي، خو په دې كړنه له جسمي او روحي سرحد نه آوړي او خپل قدرت ښكاره كوي. په داسي خبرو „ ته ډيره سكسي يي او يا چې تا داسي په زړه پورى كالي نه آغوستلاى.... ستا مور داسي په زړه پورى نده لكه ته„ ...كه شنګه„ زه پوهيږم چې ستاسو بدن شنګه عكس العمل ښكاره كوي، ته خو هم غواړئ ...» مجرم په دې خبرو غواړى اغيزمن خلكو ته دا احساس وركړى، چې هغوى هم غواړي. هغه د ماشوم په ذهن كي وركويُ، د هغه خپله ګناه ده، جنسي عملونه وشول. اغيزمن كسان هم د جنسي عمل په وخت كي ځيني وختونه پر جسمي شهت راځي اوتر جنسي لذت پوري رسيږى. دا دهغوى لپاره په خاصه توګه خراب كار دى. ښځي د دې مسؤليتونو په مسؤليت كې د دې بدلون ځيني تجربې هم تجربه كوي.

اغيزمن كسان هم د جنسي عمل په وخت كي ځيني وختونه پرجسمي شهوت راځي او تر جنسي لذ ت پوري رسيږي. دا د هغوى لپاره په خاصه توګه خراب كار دى. جسم فقط په يوه جنسي عمل تشويق كيږي. سړى بايد وروسته د هغه له كبله ونه شرميږي.

## د ښځو او ماشومانو پر وړاندي د تاوتريخوالي عواقب

### شخصي عواقب

هر كس په مختلفو ډولونه د تاو تريخوالي پر وړاندي غبرګون ښيي. د جنسي عمل په ارتباط د تاوتريخوالى تجربه معنى تل د اغيزمن كسانو لپاره د هغوى پشپړتيا ته صد مه رسول دي. دا كېداى شي د اوږدې مودې لپاره رواني ناروغي را منځ ته كړي. زياتي ميرمني او ماشومان د جنسي تاو تريخوالى له خاطره خپل ټول عمرد مسئوليت احساس كوي او رنځ وړي. هغوى هغه څه چي ور پيښ شوي دي، طبقه بندي كوي، چې په وپوهيږي، او بيرته پر خپل ځان او خپل ژوند كنټرول ولري. هغه كوښښ، چې په دې واقعه ځان

**د مثال په توګه**

» كاشكي زه په هغه ځاى كي نه واى او يا كاشكي ما په خپله رضاُ ور سره كړي واى. زه يي با يد بالاخره و منم، چې هغه زما ميړه دى او حق لري ، چې زما سره ويده شي«

پوه كړي، د مسئوليت احساس را منځ ته كوي. هغوى خپل چلند ته په تاوتريخوالي پوري ارتباط ور كوي.

اغیزمنی میرمني تر واقعې وروسته د تکان په حالت کي وي، هغوی تر زیاتو ورځو پوري د خپل ځان او چاپیریال احساس نه کوي. هغوی په خپل عادي چاپیریال کي ځان نا بلده بولي او احساس کوي، په هر څه چي يې باور درلود، و جود نه لري. په داسي حالت د سر ګمي احساس کوي.

د اغیزمن کس چلند تر عمل وروسته په شخصي توګه توپیر لري. یوه »خاصه« نمونه وجود نه لري. **په ممکنه غبرګون او عواقبو ظاهریدو پوري** ارتباط لري:

- **عرض پر وکړي:** ځیني میرمني له ځان سره فکر کوي، چي تر واقعې وروسته پولیسو ته ورشي.
- **اړیکي ولټوي:** نوري میرمني غواړي له پالونکو سره خبري وکړي، مسلکي ځایونه و لټوي او یا د خپل باوري کسانو سره خبري وکړي.
- **سقوط:** زیاتي اغیزمني په ساعتونو ژړا کوي، خبري نه شي کولای، او خپله نا امیدي په ښکاره توګه ښيي.
- **کنټرول:** نورې ښځې پر ځان کنټرول لري، راټول شوي ، قضاوت درلودونکی او ارامي وي. د هغوی لپاره واضح وي ، چي تاوتریخوالی يې لید لی او مجرم کس غلط دی، اما بیا هم له ځانه پوښتنه کوي، چي کوم څه يې غلط کړي دي.
- **بخښنه لټوي:** د ځینو لپاره دا څه چي پیښ شوي، حتمي تاوتریخوالی نه دی. هغوی زیار باسي، د تاوترخوالي عمل درجه بندي کړي، بخښنه ور ته وکړي او نورمال يې و ارزوي. داسي میرمني زیات وخت پر خپلو شخصي احساساتو باور نه شي کولای، هغوی زده کړي نه دي، چي انزجار ، ویري، نا امیدي، نفرت، غمګیني او کمزور تیا ته اجازه ور نه کړي.
- **د ځان د ارزش احساس صد مه:** آبرو، د جنسي عمل نورمال لیدنه او د خپل جسم په اړه احساس کېدای شي ، د اوږدې مودې لپاره صد مه ووینې.
- **پر ځان اتهام:** زیاتې ښځې د شرم احساس کوي او له ځپل ځان نه نفرت کوي او یا له ځانه سره
  پر ځان ازارونکي اتهام او د ګناه احساسات را پیدا کوي.
- **د تشویشونو احساس:** زیاتې ښځې د تاوتریخوالی قرباني د عمل په وخت کي د خپل غبرګون په اړه ژور تشویشونه لري.

**د مثال په توګه**
ځلور کلنه جنکۍ په یوه خاص چاپیریال کي لویه شوې ده. جسني تاوتریخوالی هلته »نورمال« وو. مور نه غوښته او یا يې نه شوای کولای، دا ماشوم و ساتي، هغې مرسته نه شوای غوښتلای، دا ځکه چي هغه نه پوهیده ، چي لوریې مرستي ته اړتیا لري. هغي د خپل جسم په اړه احساس له لاسه ورکړې، پر ځان باور او له ځا نه يې نفرت کاوه.

بالاخره دا نه پوهیدل. په همدې وخت کي يې د الفت او توجه ارزو لرل: هغې زده کړې وه، چي دا به د جنسي عمل له لاری پیدا کړي او خپل ټولګۍ وال يې جنسي عمل ته وهڅول. دا چلند تر نظر لاندي نیول شوی وو او د جنسي عمل چلند په توګه درجه بندي شو. له همدې کبله یو مسلکی کس ته خبر ورکړه شو.

نژدي کسان زيات وخت دا توصيې او فکرونه تقويه کوي. خپلوان، رفيقان او دوستان د دفاع په شکل غبرګون ښيي، زيات وخت عقيده لري او يا ددې عمل په اړه نه پوهيږي او اغيزمن کس ته مسئوليت متوجه کوي.

**روغتيايي عواقب**

سړی نه شي کولای د تاوتريخوالی تجربو روغتيايي عواقب زيات وخت  په واضح توګه په تاوتريخوالي پوري تړاو ور کړي. ځينی رواني او روانتني ناراحتي وروسته را پورته کيږي او بيا زيات وخت دوام کوي.

ميرمني، چي په وړوکتوب کي يې تاوتريخوالی ليدلی وي او په دې تړاو د اوږدې مودې لپاره کړيږي، په لومړي سر کي نه شي کولای،  دا ناراحتي په يوه ممکنه تاوتريخوالي پوري تړاو ور کړي .

زيات وخت دا هم پيښيږي، چي قرباني کسان د تاوتريخوالي زخمونه د »ټکرونو« عواقب بولي.

لاندي نښاني کيدای شي، د تاوتريخوالي عواقب وي:

– **جسمي صد مې:** د هډونو ماتيدل، د دننه اورګانونو صد مې، پر سر د وهلو عواقبو نه د مغز صد مه، د زخمونو د خراب جوړيدلو له اثره دا غونه پر ټول بدن، سوځول، د تيزاب شيندل، مخ ته بد تغير ورکول، د ليدنی اوريدني کموالی ، د لغتو په واسطه د لړمون زخمې کول او يا په زور جنين ته سقوط ورکول.

– **د تناسلي ځای زخمي کول:** جنسي بريدونه د مقعدي او مهبل زخمي کول او ويني کول را منځ ته کوي، مثانه التهاب پيدا کوي، دتناسلی ځای ناروغي، بې ثمره کيدل او د جنين ضايع کول.

– **روان تني ناروغي:** د معدي زخم کېدل، ترومبوز، د زړه دردونه، دوام داره سردردي، د ويني فشار خرابېد ل او ډير نور.

– **روحي او رواني صدمه:** د ويري حالت، بې خوبي، نا باوري،خفګان، شرم او د مسئوليت احساس، تر واقعي وروسته د ناراحتي حالت، تصورات،د نجسي او داغ اخيستلو احساس، د شخصيت او د سرحد پيژندلواختلال، د ځان کم ارزښي، نا اميدي، د ځان زخمي کولو چلند، د جنسي عمل په وخت کي دوام داره دردونه ، د جنسي عمل پر وړاندي سخت چلند ، د غذا خوړلو اختلال، مجبوری، ددوا، دارو او نشه يي توکي اعتياد، ځان وژنه او يا د خان وژني هڅه

ځيني وختونه اغيزمن کسان خپل رواني عواقب د تاو تريخوالي په ليد نه پوری نه تړي. هغوی خپلي ستونزي په بد رفتاری کي نه ويني ، بلکه د خپل »کمښت«  پايله يې بولي. داسی حالت نور هم د ځان دارزښت  له لاسه ورکول دي .

**کورني او ټولنيز عواقب**

انسانان د ټولني دغړي په توګه ارتباطاتو ته اړ تيا لري، دا کورنۍ دي، ددوستانو ټولني دي يا د کارهمکاران دي. د نيغ تاوتريخوالی تجربی په زيات وخت کي د دوستان له دايري نه راځي – تجربی ډير کم وخت بيګانه وي. په دې ترتيب خپل ټولنيز چاپيريال په مستقيم توګه اغيزمن دی. زياتو اغيزمنو ميرمنو ته ستونزمن کار دی، پر خپلو تجربو د تاوتريخوالي په اړه خبري وکړي. هغوی له اتهام نه ويره لري (» ته ولی هلته تللې وي او يا تا حتماً هغه ته په مينه کتلي دي؟«). د هغه پروړاندي د قرباني شوي کس د زياتو خپلوانواو دوستانو لپاره سخته ده، چي د تاوتريخوالي اظهار په خپل چاپيريال کي ومني.

**د کورني \ جنسي تاوتريخوالی اغيزمن کسانو لپاره د عواقبو خطرونه:**

– **له محروميت نه ويره** د ټولني په چاپيريال کي. د خپل تاوتريخوالی اظهارول کيدای شي له پارتنر نه جلا والی سبب شي. يوازي والی، له کورنۍ سره د ارتباطاتو قطع او يا د (نوی) دوستي کولو نه ويره ، چي بيا به د تاوتريخوالی عمل را منځ ته شي.

– **زيات د ګوښه کېدو احساس:** د دوامداره بدرفتاری په حالت کي له چاپيريال نه د زيات ګوښه کېدو احساس پيدا کيږي. د خپل ځان د امنيت په اړه باور له لاسه وزي.عواقب يې د ځان شاته کول او په خاصه توګه د ځان د ارزښت په اړه تغيرات دي.

– **اقتصادي اړتيا** په لومړي سر کي د وتلو لياره نه ښکاره کوي. زيات وخت د ګوښه کېدو خواته بيايي. د عامل د تاوتريخوالی د چلند په بغل کي داسی احساس کيږي، چي بيله هغه ژوند کول ستونزمن دی.



– **غیر فعال کېدل:** پرځان د باور او د خپل ارزش له لاسه ورکول زیا تره له عامل سره ځان عیارولو خواته بیایي. پدي ځای کی مطلب له خپلي بقاُ نه دي. د مجرم او اغیزمن تر منځ ارتباط دومره پیاوړی شي، چي اغیزمن کس خپل ځان پخپله د مجرم په شان ویني.

– **د ماشومانو پر وړاندی د مسئولیت د نه شتون احساس:** په ندرت سره په پیښه نه شي ،چي اغیزمن کسان په سختو رواني ناروغیو اخته نه شي (تر واقعي وروسته د ناراحتي احساس، پرېوله ولاړ، د شخصیت اختلال، د خپل ځان د شخصیت هیریدنه)، عواقب یې د ماشومانو په اړه غفلت دی.

– **له تغیراتو نه ویره:** د ژوند پلانونه او د کار حالات کېدای شي د جلا کېدو په خت کي تغیر وکړي: دمثال په توګه له کار نه جوابیدل اویا د کار ځای تبد یول، د کار په ځای کي ستونزي، بیکاري

– **غریبي:** له جلا کېدو وروسته ډیري میرمني غریبی شي او یا د غریبي له خطر سره مخ شي. پدې کي د کور له لاسه ورکول او بې سر پناهي شامل دي. میرمني او ماشومان، کوم چي دتاوتریخوالی له تجربی نه ورستو له خپل ټولنیز چاپیریال نه ولویږي، ډیر زیا ت له غربت سره مخ کیږي.

اغیزمن کسان یوازي له ټولنیز چاپیریال نه د ګوښه کېدو څخه نه کړیږي. ډیري ښځي د امن کورونو ته تښتي او نه یوازي خپل باوري چاپیریال پرېږدي، بلکه خپله شتمني هم پرېږدي. هغوی زیات وخت عرض نه کوي، ځپله نفقه او د صدمی جبران پرېږدي.

**ددې کار علتونه دادي:**

– له بیا تاوتریخوالي برید ونو څخه ویره

– شرم، دا ځکه چي هغو په ډېرو وختونو کي فکر کوي، دا پخپله په ګناه کي( شریکه) ده او نه غواړي کورنۍ ته یې تاوان ورسیږي

– پوهیږي ، چي قضایي لاره ستونزمنه ده او همیشه بریالیتوب نه لري.

– د پلار سالاري په ترتیب شوي ژوند کي: نارینه حق لري، خپله میرمن او ماشومان په زور تربیه کړي او له خپلي میرمني نه جنسي عمل و غواړي.

**د نسلونو په خوا هم عواقب**

انسانان، چي په ماشوم توب کي یې تاوتریخالی لیدلی وي، په وروسته کي پخپله هم د تاوتریخوالی عاملین شي او یا »قرباني په رول« کي پاتي شی.

**د مثال په تړګه**

ځلور کلني جینکۍ مور په خپله هم په ماشوم توب کي له خپل پلار نه تاوتریخوالی لیدلی. مور یې نشوای کولای، چي خپل ځان او خپله لوروژغوري. هغې زده کړي، د جنسي عمل په وسیله له نارینوو سره اړیکي نیولای شي. لور یې په دولس کلنی سن دا دنده پر غاړه واخیستل. دکورني مرسته کونکي پوښتنه وکړه، ولی مور خپله لور د هغې د پارتنر بریدونو و نه ژغورل. مور یې ځواب ورکړ: » دا زما لپاره نورمال وه، ما هم په همدي ترتیب ددی کار لیدنه کړې ده.

## د ماشومانو لپاره پایلې

هغه ماشومان، چې په مستقیم یاغیر مستقیم ډول کورنی تاو تریخوالی وینی، د روانی صد مې عواقب يې د اغیزمن کس په شان وي او بر سیره پرهغه په سختوروانی ستونزو اخته وي.

د عواقبو اظهارات يې داسې وي:

– **د خپل ځان د ارزښت احساس يې کمیږي:** د ځان انکشاف يې په مراتبو محدود کیږي.

– **نا امیدي:** د والدینو د یوې برخې ، مور یا پلار، ضعیفوالی او بې وسې کېدای شي دهغه بې وسې هم پیاوړې کړي.

– **غلطه ارزیابي:** د والدینو د یوې برخې، پلار یا مور، ضعیفوالی او بې وسې کیدای شي، چې دا سې حالت را منځ ته کړي،چې ماشومان د عامل پلو ونیسي، دا ځکه چې هغوی هلته ځان په امن کې بولي.

– **د غیرمطمئنه رول:** هغه ماشومان، چې کورنی تاوتریخوالی وینی، وروسته پخپله هم یا عا مل شي او قرباني.

– **جسمي صدمې:** په زیاتو واقعو کی ماشومان د راونی صدمې په بغل کې همدا رنګه لکه مور يې، جسمی زخمونه لري. ځیني وختونه غواړي له مور سره مرسته وکړي. په وروستو کې هغه وخت چې موریې په نیغه توګه د تاوتریخوالی قرباني شي.

– **د پټ ساتلو بار:** ماشومان مجبور دي ، د اجباری ښوونځی ته تګ په وخت کې له بهر سره خپلې اړیکې وساتي. په کورنې تاوتریخوالی سره هغوی تر فشار لاندې راځي. هغوی ویره لري، چې خپل پلار به يې زندان ته ولاړ شي، دا ځکه چې هغوی پټه خوله نشوای پاتې کیدای. هغوی ته ویل کیږي، چې ستا ګناه به وي، که کورنۍ د پولیسو په راتګ سره ټوټه ټوټه شي. ورته ویل کیږي ، چې هایم ته ولاړ شې. دا د زیاتوفرصتونوپه وختونو کې یوعلت يې دادی، چې ماشومان ولی پر کورنې واقعاتو خبرې نه کوي. پردې برسیره په ډېرو ښوونځیو کې معلیمین په مناسبه توګه له تاتریخوالی سره کړنه نه شي کولای.

– **سخت صدمې:** په عمومي صورت محوه کېدل او د لید ل شوو د هیرولو کوښښ کېدای شي تېلنیز محرومیت را منځ ته کړي او حتی تر ځان وژنې پورې يې ورسوي.

– **د هیرولو د کوښښ پیل:** ځیني ماشومان خپلې کورنۍ پریږدي او د نوی ژوند د پیل هڅه.

هغو کسانو ته ورشئ ، چې تاسو باور په لرئ. د سلا او مشورې له ځایونو سره د ما د هغو شومانو لپاره چې تاوتریخوالی يې لیدلی وي، د مرستې او امن په اړه خبرې وکړئ



# 4. له تاوتریخوالی د وتلو لاره

## په المان کي د تاوتریخوالی د قربانی کسانو لپاره قانوني امن

**ماشومان ، ښځي او نارینه په المان کي مساوي حقوقو لري. د امن امکانات د ټولو لپاره په مساوي اندازه شتون لري. د**

تاوتریخوالی د قربانیو لپاره په المان کي مختلف امکانات موجود دي. هر انسان حق لري ، بیله تاوتریخوالی ژوند وکړي.

تاوتریخوالی د پارتنر له خوا کیدای شي ، خو اړخه ولري: توهین، د شخصي آزادي سلبول، کنټرول، زشتیت، تهدید، وهل، په زور زیاتي جنسي عمل، تعقیب اویا ازارول.

### په بیړنیو وختونو کي مرسته

که پارتنر په جدی او فوري توګه زورزیاتي کوي، کیدای شي پولیس ته په ۱۱۰ شماره زنګ ووهل شي او یا د پولیسو دفتر ولټول شي. پولیس مکلف دي، چي په بیړه د کسانو د ژغورني لپاره درشي. پولیس کولای شي، عاملین کسان د ۱۴ ورځو لپاره له کوره منع کړي. پولیس کولای شي ، عاملین په موقتي ډول په حراست کي ونیسي ، تر څو د کور منع کول تعمیل کړي. د جرم په حالت کي پولیس مجبور دی ، په دې اړه راپور رسمي کړي.

هغه میرمني ،چی تاوتریخوالی ویني ، کولای شي د امن له کور سره اړیکي ونیسي او هلته په موقتي ډول له ماشومانو سره واوسیږي. ډیرمهم دی، چي زخمونه د ډاکټر له خوا و کتل شي او پدې اړه راپور ولیکل شي.

**ټول انسانان د قانون پر وړاندي مساوي دي. ماشومان او میرمني هماغه حقوق لري لکه نارینه او کولای شي پخپله تصمیم ونیسي. قانون او دین یو له بله جلا دي.**

### د سلا مشورې امکانات

د تاوتریخوالي اغیزمنی میرمنو سره مرسته کیږي ، ملاتړ یې کیږي او نورد امن امکانات د سلا مشورو له ځایه، د امن له کورونو نه، د قرباني مرستندوله دفترونو نه او یا د تاوتریخوالي په حالت کي بیړني ځایونونه (د اړیکو ادرسونه وګورئ).
مسلکي د سلا مشورو ځایونه د راتلونکي بهیر په اړه معلومات ور کوي ، اوبیله دي،چي شکایت وشي. د جزا لپاره په وروسته کي بیا هم شکایت کیدای شي. د غوښتنی سره سم یوه پټه سلا مشوره هم امکان لري.

د تاوتریخوالی سره مخ شوي میرمني کولای شي له رفیقانو او دوستانو، خپلوانو او ګاونډیانو نه هم مرسته وغواړي.

که شکایت په نظر کي وي، باید حتمي له یوه حقوقي وکیل سره سلا مشوره وشي.

**د سلا مشورو ځايونو کار کونکی، ډاکټراني اوقانوني وکيلاني په عامه توګه د پټ ساتلو مکلفيت لري. که د ماشوم لپاره خطر متوجه وي، بيا کېدای شي چي هغوی مجبور شي، د ځوانانو دفتر ته خبر ورکړي.**

## د تاوتريخوالی د امن قانون له مخي د امن دستورات

» څوک چي وهل کوي، هغه بايد ولاړ شي» - قانون هرکس زجر ليدونکئ له تاوتريخوالی، ازاراو ځورولو نه ساتي.

څوک چي د تاوتريخوالی، تهديدونو او ورروستي ستونزو سره مخ شوي وي، کولای شي ، له جزای مسئلي نه جلا د يو مدنی امني دستور وراندیز وکړي. پداسي حال کي کېدای شي، اغيزمن کس د سلا مشورې له ځايونو نه مجاني مرسته تر لاسه کړي. په محکمه کي قانوني اقدامات د تاوتريخوالی نه د حفاظت د قانون (ک س ک ) له مخي لګښت لري. څوک چي بي پيسو وي، معنی عوايد او نورشتمني ونه لري، کولای شي، د محکمې د بهير لپاره د لګښت وراندیز وکړي.

هر څوک کولای شي د امن ددستور وراندیزد خپل اوسيدنی د ځای محمکی ته (لومړنی محکمی) ، يعني د هغه ځای محکمې ته چي تاوتريخوالی پکې واقع شوی او يا د اقامت په ځای کي وړاندي کړي.  د امن د اقداماتو په توګه محکمه کولای شي، عامل د بيلګي په توګه منع کړي،

– کورته ځان نږدي کړي.

– هغه ځايونو ته ورشي، چي هلته د تاوتريخوالی ليدونکي ميرمني تګ او راتګ کوي (اويا مجبور چي ويې  وکړي)

– له هغوی سره اړيکي ونيسي.

– اويا د اغيزمنو سره ليده کاته و کړي.

هغه څوک چي له عامل کس سره په يوه کور کي اوسيږي، کولای شي د هغه له کورنه د ايستلو وراندیز وکړي.

د امن اقدامات د محکمي له خوا د يوې معيني مودې لپاره تعين کيږې او له پوليسو سره شريک کيږي. که عامل کس د امن له دستور نه سرغړونه وکړي، ترجرم لاندي راځي. په دې وخت کي هم کېدای شي، پوليسو ته خبر ور کړه شي.

## د يوې قانوني وکيلی مقررول

د يوې قانوني وکيلی له خوا استازيتوب حتمي نه دی. که څوک شکايت کول وغواړي، بيا بايد حتمي د يوه قانوني وکيل له خوا ملګرتيا ور سره وشي.، دا ځکه چي هغه وخت بيا امکانات موجود دي، د محکمې پر بهير اغيزه ولري. اغيزمن کسان بيا د فرعی شکايت کونکي په توګه هلته حاضريږي. د يوه تاتريخوالی مشورې په ځای کي او يا د مرستندويه موسسي له خوا کيدای شي تجربه کاره وکيلان توصيه شي.

هغه څوک چې د قانوني وکيل مشورې وس و نه لري، امکانات لري، د لومړۍ سلا مشورې لپاره د لګښت ورانديز وکړي. د سلا مشورې د لګښت کاغذ د اوسېدنې د ځای د لومړنۍ محکمې له خوا ورکول کېږي. د وړانديز ور کولو په وخت کې کېدای شي ، اغيزمن کس د تاوتريخوالی مشورې ځای له خوا مرسته ورسره وشي.

هغه څوک چې د يو جرم قرباني شوی وي او بايد د شاهد په توګه د محکمې په جرمی بهير کې واورېدل شي، کولای شي د لومړي مشورې لپاره د مستحقې وړانديز وکړي.

د تاو تريخوالی ليدونکي ميرمني کولای شي د شکايت کونکي په حيث په فرعي توګه په محکمه کې حاضر شي او د همدې هدف لپاره يوه قانوني وکيله د فرعي شکايت استازيتوب لپاره مقرره کړي. لګښت يې کېدای شي په خاصو شرايطو کې پر غاړه واخيستل شي. د لګښت په اړه کېدای شي د وکيل سره په لومړي مشوره کې او يا د تاوتريخوالی مشورې په ځای کې معلومات تر لاسه شي.

د شاهدي د اوريدلو په کې هم توصيه کيږی ، چې يوه قانوني وکيله د شاهد د ملګري په توګه له ځانه سره ولري. په خاصو شرايتو کې کېدای شي ،ي دا لګښت هم پر غاړه واخيست شي.

**د نورو مرستو امکانات**

مرسته او ملاتړ يواځې د مشورې په ځايونو کې ، قانوني وکيلانو او يا د امن په کوروونو کې نه وي. د شاهدی په وخت کې کېدای شي، يو د باور کس يې ملګر تيا وکړي، اما د دې کس په اړه بايد مخکې له مخه محکمی ته وړانديزو شي. اغيزمني ميرمني هم کولای شي، د روان ټولنيز پروسی ملګرتيا نه استفاده وکړي. د روان ټولنيز پروسې ملګري خاص تربيه شوي دې او قرباني شوی شاهدان او دهغې خپلوان د محکمې د جزای بهيرپه جريان کې او بيا وروسته تر هغه په کامله توګه اماده کوي. د روان ټولنيز ملګرتيا په ورځني ژوند کې بيا نورمسلکي کسان له نورومسلکي سلا مشورو له ځايه پرغاړه اخلي.

!

**دا ددې لپاره چې د محکمې د بهير اوورځني مرستې ترمنځ په واضح توګه جلا والی موجود وی او د محکمې د پروسې ملګري تر دې اشتباه لاندې را نه شي، چې د محکمې پر پروسه يې نفوز پيدا کړی. د روان ټولنيز پروسی ملګرتيا د ۲۰۱۷ کال له جنورې نه قانوني حق دې.**

**د جزایی شکایت نه وروسته څه پیښیږي؟**

د کورني او جنسي تاوتریخوالی په اړه د جرمی شکایت لپاره د اغیزمن کس شاهدي ډیره مهمه ده، دا ځکه چي نورد ثبوت مواد په لاس کي نه شته او یا تکمیلي رول لري. په ډیرو کمو وختونو کي یو څوک د شاهد په توګه هلته حاضر وي.

هر هغه څوک چي د جرمی شکایت لپاره تصمیم نیسي، باید دا حساب وکړي چي څو ځله به

( د بیلګې په توګه د پولیسو او محکمې په حضور کي) د جرم د بهیر په اړه په مفصل ډول شاهدي ورکړي، دا کېدای شي ، د اغیز من کس لپاره سخته تمامه شي. ددې لپاره چي پوره اماده ګي ولرل شي، پر وخت باندي د سلا مشورې له ځایه سره اړیکی نیول ضروري دي. تاوتریخوالی لیدونکي میرمنی کولای شي په ټول جزایي پروسه کي د روان ټولنیز ملګري له خوا ملاتړتر

شاهدي ورکړي، تاوتریخوالی رد وي او یا هغه ډیر بي ارزښه اوکم معرفي کوي. اغیزمن کسان دا کارد نور تاوتریخوالی له ویري کوي او بل کوم امکانات نه وینی، د عامل کس سره اړیکي وشلوي. که څوک نه غواړي شکایت وکړي، د هغه لپاره به دلایل ولري. مرسته او مشوره په دې اړه او یا نوور پوښتنو په اړه په مسلکي سلا مشورو ځای کي تر لاسه کیږی، بیله دې چې شکایت وشي.



## د اغیزمن کسانو حفاظت

کوم وخت چي شکایت وشي، پولس د مجرم کس سره په خطرکي د اچول په اړه مصاحبه کوي: پولیس هغه جدي متوجه کوي، د اغیزمن کس سره له اړیکو او له نور تاوتریخوالی نه ډ ډه وکړي. دا پرزیاتو مجرمین باندی تاثیر کوي او پردې خبرو عمل کوي. مهمه خبره داده چي اغیزمن کس دموضوع په اړه پولیس ته اطلاع ور کړي، که بیا هم اړیکي ونیول شي او پر اغیزمن کس د نفوذ کوښښ وشي (که څه هم دا د دریم کس له خوا لکه د عامل خپلوان او یا دوستان) وي. پدې وخت کي نو بیا پولیس اقدام کولای شي.

## له پولیسو سره اړیکي نیول

ښځینه پولیسي په ډیرو پولیسي دفترونوکي خاص د تاوتریخوالی دقربانیو د کارونو لپاره تربیه شوي دي. قانوني وکیله او یا بل د باور کس کولای شي، د تحقیقاتو په وخت کي ملګر تیا وکړي. که د ژبي ستونزي پیدا شي، باید له پولیسو هیله شي، یومسلکی ترجمان را وغوښتل شي.

د تحقیقاتو له دفترونو لکه پولیسو سره اړیکي نیول د دې معنی لري، چي دا دفترونه باید حتمی اقدام وکړي.

**یو جزایي شکایت بیرته نه شي اخیستل کېدای.**

که اغیزمنه میرمن د محکمي په بهیر کي تصمیم نیسي، شاهدي ورنه کړي، داهغه وخت امکان لري ، چي د شاهدي د نه ورکولو حق ولري، اوکېدای شي دا میرمن په خپله شاهدي چي رشتیا خبري وکړي، ځان او یانورو خپلوانو ته تاوان ورسوي او تر مسوئلیت لاندي یې راولي.

## د محکمي نور بهیر

که دعوه نامه را منځ ته شي او د محکمي تر جلسي ورسیږي، دا د اغیزمن کسانو لپاره بیا یو بل لوی بار دی. ددې بهیر لپاره ښه تیاري د سلا مشوري د دفتر، یوي روان ټولنیز ملګری او یا د یوي قانوني وکیلی په مرسته کیدای شي، چي زیاته ویره له منځ ولاړه شي.

داسي لاره، چي باید جرمي شکایت وشي، اسانه لاره نده. له همدې کبله زیاته مرسته کیدای شي، چي د محکمي د بهیر په اړه ، په محکمه کي د خپلو حقوقو په اړه، د قرباني د حفاظت اقداماتواو د محکمي په پروسه کي د ملګرتیا په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي.

**ددرملنې، تقاعدی اود سوکالي مرستي**

که یو کس په باوري توګه ووایي، چي د یوه قصدي او غیر قانوني برید له امله يې روغتیا ته صدمه رسېدلي، د روغتیایي او اقتصادي پایلو له خاطره د دولتي مرستو مستحق دی. که یو څوک په المان کي دري کاله نه وي اوسیدلی، هغه د عوایدو نه یی پرته د مرستو مستحق ګڼل کېدای شي.

وروسته مرستي بیا دقرباني د غرامت قانون (او ای جی) له مخي اجرا کېدای شي.

- د روغتیای او ناروغی درملنه (رواني درملنه هم)
- د تقاعدي مرسته (د رسېدلي صد مي اندازه، او په عوایدو پوري مربوط)
- د سوکالی مرستي، د اړتیا په وخت کي په ځانګړي توګه خاصي مرستي (د بیلګې په توګه په کار کولو کي برخه اخیستل، سرپرستي اوپه کورني کارونوکي مرسته او د ژوندانه لپاره د لګښت پوره کول)
- د بیا رغونی اقدامات (د بیلګې په توګه استراحت ګاه ته تګ)

## په ګډه بیله له تاوتریخوالی

په مسلکي سلا مشورو ځایونو کي د ځان د حفاظت په موخه بیله تاوتریخوالی ژوند کولو ته اشاره کیږي. خبري په برابري توګه تر سره کیږي او هدف يې د اغیز من کسانودځان په اړه تصمیم نیول، د ځان د ارزش لوړول اوپه هغه ځایونو کي ، چي چانسونه او خنډونه پراته وي، ددې احسا س پیاوړي کول دي.

هغوي هلته پوهیږي، چي څنګه فعالیت او د ځان دفاع کولای شي او یوه میرمن چي تاوتریخوالی یې لیدلی وي، څنګه پیاوړتیا درلودلای شي، ځان له تاوریخوالی وژغوري. پدې پوری دا هم ارتباط لري، چي میرمني پیاوړي کړي ( په خاصه توګه د هغې حقوق او امکانات ، ځان پوه او اظهار کړي) او د نارینه پیاوړي کیدل هم، چي پوه شي په ستونزمنو حالتونو کي څه باید وکړي ، چي تاوتریخوالی را منځ ته نه شي.

> **!** اړین: د تاوتریخوالی په لیدو سره معنی دا نده ، چي ټول ژوند باید د قرباني په شان ژوند وکړي – له تاوتریخوالی نه د وتلو لاری شته.

# لغاتنامه

| | |
|---|---|
| استثمار | غیر حقوقی او یا بی انصافه مناسبات د انسانانو او ګروپونو تر منځ. دلته د قربانی کسانو د مجبوریت او ضعیف والی له حالت نه د سؤ استفادې په شکل استعمالول دي |
| ادغام | له چاپیریال سره د (شخصي) ارزشتونو برابرول. |
| آزادی سلبول | نیول (بندي کول، تښتول، اونور) د مربوط کس له رضایت نه پرته! |
| بې وزلي | په یوه حالت کې روانی بې واکی او یا بیله مرستي |
| باوري کس | یو څوک چې پوره باوري وي |
| تعلیمی او تربیوي ځایونه | هغه ځایونه دي ،چې د دولت اویا د ښاري مقرراتو پر بنسټ د تعلیم او تربیې دنده ورپه غاړه وي. په دې چوکاټ کې ښوونځی، وړکتونونه، موسسې، کتابخونی، موزیمونه او نور ي په دې اړه تړلني راځي. |
| تسلط | د یوه کس مناسبات له بل کس سره ، چې یو کس رهبري پر غاړه اخلي او بل د هغه تر تاثیر لاندې وي. |
| تحمل | د یوه کس مطابقت او قبولي |
| تحمل شوي کسان | د تحمل په وسیله له المان نه د ایستلو مسئله ځنډېږي ( دا د اقامت قانوني اجازه نده) |
| تر اقعې وروسته صدمه در لودل | خاصه ناروغي تر خطرناکه او ژوندانه ته د خطر واقعي وروسته تشویش در لودل |
| تقاعدی خدمات | د اجتماعي درېځ \ سن په لحاظ دیو معینې اندازې پیسو حق درلودل |
| پلار سالاری | ترتیب شوی تړلني ، چې په هغو کې نارینه تر ښځو زیات واک لري. |
| په زور زیاتي فاحشه ګري | د انسانانو تجارت، د جنسي استثمار په خاطر |

| | |
|---|---|
| **پناهنده ګان او مهاجرین** | هغه کسان چي » د نژادي، مذهبي، ملیت، په یوه خاص ټولنیز ګروپ پوري اړه درلودل او د خپل سیاسي نظر« له خاطره باوري ویري ولري او له هغه هیواد نه بهر وي، چي دی یې تابعیت لري. |
| **جرمي اعمال** | د نا فذه قانون پر خلاف عمل کول |
| **جزای پروسه** | د یوه جرم قضایی تعقیب |
| **خفګان** | رواني ناروغي، علامي یې د فعالیت کمول ، خوابد تیا، د دلچسپي له منځ تلل او د حرکت کولو له منځه تلل او نوري علامې |
| **خطر** | یو حالت، چي په هغه کي د ناروغي خطر موجود وي --» د بیلګې په توګه رواني ناروغي د تاوتریخالی په نتیجه کي |
| **ځان ساتنه** | ځان له خطرونو ساتل |
| **د اړ تیا مناسبات** | هغه مناسبات، چي یو کس بل کس ته اړ وي<br>(د بیلګې په توګه اقتصادي او یا احساساتی) |
| **د جنسیت له خاطره تاتریخوالی** | د جنسیت له خاطره د کسانو پروړاندي تاوتریخوالی |
| **د منلو هیواد** | هغه هیواد، چي پناهنده ګان او مهاجرین مني * په کوم ځای کي چي داخلک پاتي کیږي |
| **د ماشوم سوکالي** | یو حالت، چي په هغه کي ماشوم سو کاله وي |
| **د ماشوم د سوکالي خطر** | یو حالت، چي په هغه کي ماشوم ارام نه وي او سوکالي یې په خطر کي وي. د بیلګې په توګه که ماشوم له کورني تاوتریخوالی سره مخ وي. |
| **د بیا رغونی اقدامات** | په ټولنه کي د یوه جسمي \ رواني ناروغه بیا ادغام |
| **د اوسېدني مکلفیت** | په المان کي د پناهنده ګانو او مهاجرینو لپاره په یوه ټاکل ځای کي اوسېدنه |
| **د راز پټ ساتل** | د ځینو مسلکي ګروپوو لپاره قانوني مکلفیت، چي معلوماتونه له بل سره شریک نه کړي. |
| **د ژوند ملګری** | پارتنر، چي له هغه سره جنسي راوابط شتون ولري. |
| **داغ ایښودل** | داغ ایښودل هغه دي، چي یو څوک یا ګروب بد وارزول شي او یا بدي خبري پرې وشي ، چي په دې ترتیب په یوه معینه کتګوري کي راشي. |

| | |
|---|---|
| د محکمي د بهیر لګښت مرسته | اقتصادي مرسته له هغه چا سره، چي (کافي) شتمني نه لري،چي په محکمه کي موضوع مخ ته بوزي |
| د شاهد ملګرتیا | د محکمي  ملګر تیا \ مرسته د شاهدانو لپاره |
| د قرباني شوي د غرامت قانون (او اې جي) | د غرامت د اجراُتو قانون د تاوتریخوالی او پاتي قرباني کسانو لپاره |
| ذ لت | یوه کړنه، چي په هغه په قصدي ډول بل څوک ذلیل کول، د هغه رنځول اوو قار را کمول دي |
| رواني | په روحیاتو اړوند |
| رواني تاوتریخوالی | د تاوتریخوالی یو شکل، چي په هغه سره په مستقیم توګه یو کس ته رواني تهدید، توهین، ویرول، کنټرولو حالت به عملی کولو سره روحي صدمه رسوي. |
| رواني حالت | جسمي ناروغي،چي علت یې په رواني ناروغي پوري اړه لري. |
| رواني درملنه | د رواني اختلال او رواني عواقبو درملنه |
| رواني صد مه | یوه بده خاطره، چي انسان یې هیرولای نشي او له همدې کبله رواني ناروغه وي |
| سلا مشورې مرستي | دولتی ټو لنیزي مرستي د هغو کسانو لپاره ،چي عواید نه لري اویایې عواید کم وي. قانوني سلا مشورې او استازیتوب نه استفاده وکړي.  د سلا مشوري مرستي هغه مرستي دي ، چي له خپلو حقوقو نه د محکمې تر بهیر دباندی استفاده وشي. |
| سرحدي لیکه د شخصیت صدمه | د شخصیت صد مه، چي له انسانانو سره د اړیکو په وخت کي بې ثباتي را منځ ته شي، په مزاج او کرکتر پوري اړه ولري. |
| سوکالي مرستي | دولتي مرستي د اړ کسانو لپاره د سوکالي پرنسپ له مخي. په دې چوکاټ کي راځي د نورو په بغل کي د اوسېدني پیسې، د بیکاري پیسې او سوسیال مرستي. |
| سرحدي غیر قانونی | هر عمل،  چي د خپلي اړتیا او ضرورت د رفع کولو لپاره کیږي، بیله دي چي د بل چا رضایت، جسمي، رواني درک او فهم او یا د ژبي ستونزي په نظر کي ونیول شي |
| سرپرستي مناسبات | هغه مناسبات، چي یو کس د بل کس له خوا سر پرستي کیږي او مرسته ورسره کیږي<br>( د بیلګي په توګه له ماشومانو د معلم له خوا مرسته ور سره کیږي) |

| | |
|---|---|
| شکایت \ جرمي شکایت | د یوه جرم په اړه پولیسو او یا ښارنوالی ته خبر ورکول. یو جرمي شکایت د هر چا له خوا کېدای شي. |
| شړل | په زور زیاتي د یوګروپ یا د ګروپ برخي خلک له خپل ځایه بل هیواد ته مجبوره کول |
| ښځو باندي تجارت کول او پلورل | د غلطی وعدې له کبله د یوي ښځي را تګ، تیر ایستل او تقلب، که پوررونه او یا زیات کمیشنونه اجینټانو او یا د خدماتو په نامه ورکولو ته مجبوره وي، که تاوتریخوالی، زور زیاتي او تهدیدونه د هغې پر وړاندي وشي او یا هغه د استثمار په شکل کارونو ته مجبوره کړل شي. |
| غیر فعال | برخه نه اخیستل، فعالیت نه کول، دلچسپی نه درلودل |
| غبرګون قسمونه | په مختلفو حالتونو کي دریځ در لودل |
| قومي تصفیه | زیات وخت په زور زیاتي د یوه (مذهني) ګروپ له یوې سیمي \ هیواد  نه لیري کول |
| قضاً | ټول هغه شعبات، چي د قانون د پلي کولو دنده لري |
| قانوني وکیله | په ټول حقوقي مسئلو کي نا پېيلې استازې او مشوره ورکونکې. قانوني وکیلانې حق لري، چوپه خوله پاتي شي اوپه راز سا تلومکلف دي. دا د وکیلی او مراجعینو تر منځ مناسباتو ساتي. |
| قانونی حالت | د خاصو پوښتنو په اړه قانونونه |
| قانوني دریځ | د خاصي موضوع په اړه قانونونه |
| له بیګانه څخه ویره | له بیګانه کسانو نه ویره، د خلکو له ګروپونو نه، شیانو او حالتونو نه. |
| ګوښه کېدل | د یو کس یوازي والی \ محرومیت |
| له تاوتریخوالي نه د حفاظت قانون (جي ایس جي) | مدنی او حقوقي قانوني مقررات د تاوتریخوالي د قربانی لپاره |
| له بیګانه څخه ویره | له بیګانه کسانو نه ویره، د خلکو له ګروپونو نه، شیانو او حالتونو نه. |
| له واک نه کار اخیستل | پر یو کس واک درلودل \ دهغه کنترول کول\ له هغه نه استفاده کول \ |
| مسلکي د سلا مشورې ځایونه | مسلکي د سلا مشوري ځایونه د خاصو مضوعاتو په اړه تخصص لري، معلوماتونه وړاندي کوي، مشورې ور کوي، ملګرتیا کوي، کړني او امکانات ښودي او نورمسلکي د اړیکو کسان په ګوته کوي. |

| | |
|---|---|
| **میرمنو لپاره د امن کورونه \ د امن ځایونه** | ځایونه او کورونه، چې په خاصه توګه میرمنو ته امن او د اوسیدني امکانات وړاندې کوي، |
| مساوي حقوق \ مساوی مستحق | د مساوی حقوقو او مساوي لومړني حقوقو تامینول. قانونی مساویانه چلند بیله د جنسیت، سن، اصلي ځای ، مذهب او داسي نورو په نظر کي نیولوسره. |
| **مجبوره کول** | یو کس د ی کړني لپاره مجبوره کول |
| **وروستي اظهارات \ وروستي صدمې** | عواقب او د واقعاتو صد مې. د بیلګې په توګه رواني ستونزي، چې د تاوتریخوالي له تجریبو نه را پیدا کیږي. |
| **هویت د اختلال ناروغي** | د رواني واقعو له خاطره د شخصیت ژور اختلال. دلته په یوه کس کي دوه یا زیات شخصیتونه موجود وي. |
| **یو له بله خبري کول** | یو بل ته معلوماتونه ور کول \ انتقالول |

# د موسسو اړیکو ادرسونه

| | |
|---|---|
| Hilfetelefon bei Gewalt gegen Frauen:<br>(د مرستي مرکزي تلیفون د میرمنو پر وړاندي د تاوتریخوالي په وخت کي)<br>Tel.: 08000 116 016 (24/7)<br>www.hilfetelefon.de/ | مجاني او پټ، سلا مشوره په ۵۱ ژبو (ترکي، روسي، فرانسوي، انګلیسي، هسپانوي، پر تګالی، ایټالوي، پولنډي، سربی، چنایي، بلغاریایي، رومانیایي، عربي، فارسي، او ویتنامي). ۲۴ساعته بیړني خدمات |
| Hilfetelefon sexueller Missbrauch:<br>(د مرستي تلیفون د جنسي سؤ استفادي په وخت کي)<br>Tel.: 0800 2255530<br>www.hilfeportal-missbrauch.de | مجاني او پټ، تلیفوني مشورې د جنسي تاوتریخوالي په وخت کي، د سیمه ییزه مرستندویه موسسو ادرسونه، د مهاجرینو لپاره هم |
| Zentrales Hilfetelefon für Kinder/Jugendliche mit Gewalterfahrungen<br>(د مرستي مرکزي تلیفون د ماشومانو \ ځوانانون لپارخ چي تاوتریخوالی یې لیدلی وی)<br>Tel.: 0800 1110333 | مجاني او پټ، د ماشومانو او ځوانانو لپاره د تاوتریخوالي په وخت کي |
| Weisser Ring (سپینه حلقه)<br>د قربانییانو لپاره تلیفون: 116 006<br>weisser-ring.de/hilfe/opfer-telefon | مجاني او پټ، تلیفوني مشورې، بیړني- \د خطر په خت کي مداخله، منځګړیتوب، حقوقي مرستي، او بشري ملګرتیا |
| Bff – Bundesverband Frauenberatungsstellen und Frauennotrufe Frauen gegen Gewalt e. V.<br>(فدرالی ټولنه د میرمنو مشورې لپاره او د میرمنو لپاره بیړنی تلیفونونه)<br>Petersburgerstr. 94 · 10247 Berlin<br>Tel.: 030 322 99 500<br>Fax: 030 322 99 501<br>E-Mail: info@bv-bff.de<br>www.frauen-gegen-gewalt.de | په فدرالي سطحه موسسې، چي د تاوتریخوالي سره مخ شوي میرمنو لپاره کار کوي.<br>د سیمه ییزه مشورو ځایونو داتا بیز، دمیرمنولپاره بیړنی تلیفون او امن کورونه په :<br>www.frauen-gegen-gewalt.de/organisationen.html<br>د مرستو په وړاندیزونو کي ژبي او نور خصوصیات په نظر کي نیول کیږي |

Frauenhauskoordinierung e. V.
(د امن کورونو همږغي ټولنه)
www.frauenhauskoordinierung.de

په فدرالی سطحه موسسي، چي د تاوتریخوالی سره مخ شوي میرمنو لپاره کار کوي.
د یتا بیس د منطقوي مشورو ځایونو ادرسونه سره پ:
http://www.frauenhauskoordinierung.de/beratungsstellensuche.html
د یتا بیس دسیمه ییزه امن کورونو ادرسونه په:
http://www.frauenhauskoordinierung.de/frauenhaussuche.html
د مرستو په وړاندیزونو کي ژبي او نور خصوصیات په نظر کي نیول کیږي

---

Zentrale Informationsstelle Autonomer Frauenhäuser
(د معلوماتو مرکزی ځای د پټ امن کورونو لپاره)
Markt 4 · 53111 Bonn
Tel.: 0228 68469504/ –05
Fax 0228 68469506
E-Mail: zif-frauen@gmx.de
www.autonome-frauenhaeuser-zif.de/de/autonome-frauenhaeuser/adressliste

د سیمه یزوامن کورونه د یتا بیس

---

Bundesarbeitsgemeinschaft der Kinderschutz-Zentren e.V.
( فدرالی کاري ټولنه د ماشومانو د حفاظت مرکزکي)
Bonner Straße 145
50968 Köln
Tel.: 0221 569753
Fax: 0221 569755 0
E-Mail: die@kinderschutz-zentren.org
www.kinderschutz-zentren.org

مشورې د هغو ماشومانو او کورنیو لپاره، چي د سخت کورني تاوتریخوالی او خطرونو سره مخ وي، د حفاظت او ساتني وړاندیزونه، امکانات او د ماشومانو لپاره لنډ مهاله د اوسېدني ځایونه.
د یتا بیس د سیمه ییزه ماشومانو مرکزونو سره :
www.kinderschutz-zentren.org/zentren-vor-ort

---

Notfall-Nummern
(د مشوری وختونه له دوشنبی -شنبه له ۲ بجونه -۸ بجی د شپی)
د نجات خدمت \ اطفائیه: ۲۱۱
پولیس: ۰۱۱

وړیا اود تیلفون پتې نمری له موبایل او لینی څخه په ټول المان کی ماشومانو ځوانانو او مور پلار ته د مرستی مشوری

| | |
|---|---|
| روغتونه | د سیمه ییزه تلیفون کتاب کي وګورئ |
| Unabhängige Patientenberatung Deutschland<br>(د ناروغانو لپاره ناپېیلي د مشورې ځای په المان کي)<br>عربي: ۰۰۸۰ ۵۲۲۱۲۲۳۳<br>الماني: ۰۰۸۰ ۲۲۷۷۱۱۰<br>روسي: ۰۰۸۰ ٤۲۷۷۱۱۰<br>ترکي: ۰۰۸۰ ۳۲۷۷۱۱۰ | په المان کي روغتیایی خدماتو په اړه معلومات (له روغتیایي بیمو نه جلا!) مشورې په عربي، ترکی، روسي، او الماني امکان لري |
| Anti-Diskriminierungsstelle des Bundes<br>(د تبعیض ضد فدرالی شعبه)<br>Glinkastraße 24 · 10117 Berlin<br>Beratungstelefon: 030 18 555 18 65<br>د سلا مشورې تلیفون ۵۶ ۸۱ ۵۵۵ ۸۱ ۰۳۰<br>Servicetelefon für allgemeine Anfragen: 030 18 555 18 55<br>د عمومي خدماتو او پوښتنو لپاره لپاره تلیفون ۵۵ ۸۱ ۵۵۵ ۸۱ ۰۳۰<br>Montag bis Freitag von 9:00 bis 12:00 Uhr und 13:00 bis 15:00 Uhr<br>له دوشنبې نه تر جمعي له ۹ بجو نه تر ۲۱ بجو او له ۳۱ نه تر ۵۱ بجو<br>E-Mail: beratung@ads.bund.de<br>www.antidiskriminierungsstelle.de | د تبعیض پر وړاندې د حقوقو په اړه مشوره، دسیمه ییزه مسلکی کسان پیدا کول. |
| Bundesarbeitsgemeinschaft Täterarbeit Häusliche Gewalt (BAG TäHG) e. V.<br>فدرالی کاري ټولنه د کورني تاوتریخوالي پر وړاندي<br>Nordring 15 c · 76829 Landau<br>Tel.: 06341 55758-21<br>E-Mail: info@bag-taeterarbeit.de<br>www.bag-taeterarbeit.de | د ګډ کلتورونو پورته مرجع د هغو موسسو لپاره کار کوي، چي په المان کي يې د کورني تاو تریخوالی د عاملینو سره یې کار وي، هغوی د قرباني کسانو د حفاطت لپاره له اړونده وکیلانو سره یو ځای کار کوي |

Deutsche Gesellschaft für Prävention und Intervention bei Kindesmisshandlung und -vernachlässigung e.V.

**الماني شرکت د ماشومانو سره د بد رفتاري او غفلت د مخنيوی لپاره**

Geschäftsstelle
Sternstraße 9 – 11 · 40479 Düsseldorf
Tel.: 0211 4976 80 0
Fax: 0211 4976 80 20
E-Mail: info@dgfpi.de
http://www.dgfpi.de /

د مسلکي کسان ټولنه (انفرادی کسان او موسسې) د ټول المان او ګاونډی هیوادونوپه ګډون ، ټولو خپله دنده ګرځولې، په فعاله توګه د ماشومانو د حفاظت لپاره کار وکړي. د نورو خدمتونو په اړخ کي د هغو موسسو ادرسونه وړاندي کوي، چي د ځوانانو او ماشومانو ددرملني، سلا مشورې او سر پرستي او همدا ډول د هغو موسسو آدرسونه وړاندي کوي، چي د جنسي تاوتریخوالی بالغ مجریمینو سره کار کوي.

---

Deutsches Institut für Menschenrechte

د بشري حقوقو لپاره المانئ موسسه

Zimmerstraße 26/27
10969 Berlin
Tel.: 030 25 93 59-0
Fax: 030 25 93 59-59
E-Mail: info@institut-fuer-menschenrechte.de
www.institut-fuer-menschenrechte.de

دا موسسه عامي ټولني ته د بشری حقوقو په اړه دننه په هیواد کي او له هیواد نه بهرمعلومات ور کوي او د بشری حقوقو نه د سر غړوني مخنیوي او د بشری حقوقود حفاظت د لوړ والي لپاره کار کوي.

---

Jugendportal www.zwangsheirat.de

د ځوانانو انتر نتي پاڼه پورتال

Tel.: 030 40 50 46 99-0
Fax: 030 40 50 46 99-99
E-Mail: info@frauenrechte.de
www.zwangsheirat.de

د زور ودلولو د خطر تلیفون. انلاین مشورې ور کوي، یو بلوګ اوپه ټول المالن کي د سلا مشورې لپاره لټون وړاندي کوي.

KOK – Bundesweiter Koordinierungskreis gegen Menschenhandel e.V.

په فدرالي توګه د انسانانو د تجارت پر وړاندې د مرسي او همکار دایره

Kurfürstenstraße 33

10785 Berlin

Tel.: 030 263 911 76

Fax: 030 263 911 86

E-Mail:info@kok-buero.de

www.kok-gegen-menschenhandel.de

دا ټولنه په سیمه ییزه، ملي او نړیواله سطحه د انسانانو د تجارت او استثمار پر وړاندې او د اغیز من کسانو د حقوقو د اعاده او د مهاجرینوپه اړه د بشري حقوقو د عملي کولو لپاره کار کوي.

---

Notruf und Beratung für vergewaltigte Frauen und Mädchen e. V.

بیړنۍ ادرس د هغو میرمنو او جنکیانو لپاره چي جنسي تیري پرې شوی وي .

Kasseler Str. 1a

60486 Frankfurt am Main

Tel.: 069 70 94 94

Fax: 069 79 30 27 95

E-Mail: info@frauennotruf-frankfurt.de

www.soforthilfe-nach-vergewaltigung.de/

تر جنسي تیري وروسته د اړیني درملني په اړه معلومات ورکوي او په پټه توګه د ثبوتونو ساتنه کوي.

---

TERRE DES FEMMES

Menschenrechte für die Frau e. V.

Brunnenstraße 128 · 13355 Berlin

Beratungstelefon: 030 40 50 46 99 30

د سلا مشورې تلیفون ۰۳ ۹۹ ۶۴ ۰۵ ۰۴ ۰۳۰

Sprechzeiten Montag 15:00 – 18:00 Uhr, Dienstag und Donnerstag 10:00 – 13:00 Uhr

د ملاقات وختونه دوشنبه له ۵۱ تر ۸۱ بجو پورى، سه شنبه او پنجشنبه له ۰۱ بجو نه تر ۳۱ بجو پوري

Tel. Geschäftsstelle: 030 40 50 46 99-0

Fax: 030 40 50 46 99-99

E-Mail: info@frauenrechte.de; beratung@frauenrechte.de

www.frauenrechte.de

عام المنفعه د بشري حقوقو موسسه میرمنو ته په شخصي توګه  د تلیفون له لاري او انلاین مشورې ور کوي. مشوري په المان او تر کي ژبو.

# د میرمنو او ځوانانو لپاره  په المان کي حفاظت او امن

پدې مشورتي پاڼو کي د »تاوتریخوالی نه حفاظت او امن« په اړه په المان کي د پناهندګانو، مهاجرینو میرمنواو ځوانانو لپاره معلوماتونه وړاندي کیږي. ددې بروشور په وسیله موږ غواړو تاسوته ستاسو د حقوقو او په المان کي دحفاظت د امکا نا تو په اړه معلومات در کړو . موږ تاسو ته د نورو په اړخ کي په لاندي موضوعاتو کي معلومات در کوو:

- د تاوتریخوالی سبب، شکل او پایلې
- د تاوتریخوالي پروړاندي د دریځ بدلون
- د اغیزمن کس او دهغه خپلوانو ته د مرستي د وړاندیزونو ادرسونه
- څوک له تاوتریخوالی نه ژغورلای شي – او څنګه؟
- له تاوتریخوالی نه د وتلو لاره

دا لاربنود د فدرالی پروژې په چوکاټ کي د» می می- تاوتریخوالي مخنیوی د مهاجیرو میرمنو له خوا مهاجیرومیرمنو ته «MiMi-Gewaltprävention mit Migrantinnen für Migrantinnen» جوړ شوی. د دي انترنت پاڼي له لاري یې غوښتنه امکان لري: «www.mimi-gegen-gewalt.de» او «www.mimi-bestellportal.de»

Die Beauftragte der Bundesregierung für Migration, Flüchtlinge und Integration

Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.

DHBW Duale Hochschule Baden-Württemberg Villingen-Schwenningen

Sächsische Landesvereinigung für Gesundheitsförderung

AJC Berlin Ramer Institute

bipoli Bildungspolitische Initiative e.V.

STUTTGART

AWO Interkulturell Vielfalt verbindet!

LANDKREIS MARBURG BIEDENKOPF

Kreis Gütersloh weltgewandt & bodenständig

Sozialberatung Stuttgart e.V.

دا مشورتي پاڼي  تقدیم شوي د :